
# زه ميين نه‌يم!

(مينه ليکونه)

ليکوال: **محمد اسماعيل کريمي**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: **زه مبین نه یم!** (مینه لیکونه)

لیکوال: **محمد اسماعیل (کریمي)**

کمپوز: **محمد ابراهیم (رحیل)**

ډیزاین: **موسی (تعبیر)**

خپرېدو کال: **۱۴۰۲ ل / ۲۰۲۳ ز**



د لیکوال سره اړیکې:

فېسبوک: **M Ismail Karimi**

وتس اپ: **۰۷۹۴۳۸۱۰۲۵**


د خپرېدو بشپړ حقوق یې له لیکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

هغه انسان ته!

چې د ساړه موسم پر مهال به يې ما پر وړاندې د ګرمۍ احساس کاوه. د مينې – پاملرنې او احسان يې ډېر پوروړی يم.

**م.ا.کريمي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مینې په اړه خوندور توري

ما د مینې په اړه ډېر اورېدلي، د میینانو له ډېرو داسې کیسو خبره شوې یم، چې پایله یې له غمه ډکه او په داسې حالت پای ته رسېدلې، چې یو میین یې نه غواړي.

زما په نظر!

مینه کوم ځانګړی تعریف نه لري، آن تر اوسه به داسې کومه کلمه نه وي رامنځته شوې، چې په بشپړه توګه د مینې او میینېدو استازیتوب وکړي. موږ د هغه کتاب له لوستلو ډېر خوند اخلو، چې زموږ له حال سره برابر وي او زموږ د ژوند انځور وړاندې کړي.

**(زه میین نه یم!)** هغه اثر دی چې په ریښتینې مانا د یو میین احساسات اغېزمنوي، د مینې هغه اور چې خلکو یې په خاموشولو کلونه وخت تېر کړی، یو ځل بیا روښانه کوي.

دا خو څرګنده ده چې ټول انسانان څه ناڅه ګډې ځانګړنې لري، لکه د خپلوانو له لاسه ورکولو درد، د میینې او میین له لاسه ورکولو درد، ټولنیزې ستونزې او داسې نور.

یادې کړنې هغه وخت ګډ درد لري، چې تا تجربه کړې وي، هر هغه کس چې یو ځل یې هم په زړه کې د مینې د احساس تارونه په لړزه راغلي وي، د دغه کتاب په لوستلو به هرومرو هغو شېبو ته ستنېږي، چې د خپل میین ترڅنګ یې تېرې کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځینو لیکل شویو کتابونو کې هغه خبرې او کیسې ډېرې راځي، چې له تجربه کېدلو لرې وي، یوازې خلکو اورېدلې وي، خو د یاد کتاب عمده ځانګړنه دا ده، چې هغه رښتیا پکې وړاندې شوي، چې په یوه ټولنه کې شته ټول میینان یې تجربه کوي.

دغه کتاب نه یوازې په ژوند کې د یوې اړینې موضوع په اړه لیکل شوی، بلکې د ادبیاتو او ژبې په برخه کې هم د ښکلو جملو په لرلو سره یو په زړه پورې کتاب دی.

د (**زه میین نه یم!**) لیکوال، محترم محمد اسماعیل کریمي د ژوند له داسې رازونو پرده پورته کړې، چې هر فرد باید پرې پوه شي او معلومات پکې ولري.

محترم کریمي صاحب په ډېرو لنډو جملو کې د ژوند ډېر درانه مسایل بیان کړي او په خوږو الفاظو یې دا موضوع ښه څېړلې ده.

په پای کې محترم کریمي صاحب ته د نورو په زړه پورې آثارو د پنځېدو هیله کوو، قلم یې تاند او پر ګوتو یې برکت شه!

شکېبا (نادري)

۱۴۰۱ د سلواغې ۱۰مه

کابل، خپله جونګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرينې کرښې

نن سبا ډېرى ځوان ليکوالان د هنري نثر د ليکلو هڅه کوي، خو ډېر لږ شمېر يې په دې بريالي کېږي، چې پاخه هنري نثرونه وليکي او د هنري نثر د لوستونکو او مينوالو تنده پرې ماته کړي.

زما په اند!

تر ټولو ښکلی هنري نثر هغه دی، چې د لومړيو کرښو په لوستلو يې انسان ته د دې تلوسه پيدا شي چې تر پايه يې ولولي، **(زه مېين نه يم!)** اثر هم کټ - مټ همداسې يو اثر دی، چې د مينې د يوه ليک په لوستلو يې د انسان زړه کېږي بل يې ولولي او همداسې د کتاب لوستل ژر تر ژره بشپړ کړي.

د هنري نثر يوه بله ځانګړنه دا ده، چې انسان فکر کولو ته هڅوي او لوستونکی دې ته اړ کوي، چې په خپلو فکرونو کې د ليکوال د زرينو کرښو مانا ومومي، له نېکه مرغه دا اثر هم له دې ځانګړنې تش نه دی او په لوستو يې انسان هرې کرښې ته په خپل ذهن کې ځای ورکوي او دې ته اړ کېږي، چې د هرې کلمې په اړه يې څو شېبې فکر وکړي.

د دې اثر په لوستلو مې څو ټکو ته پام شو، چې يادول يې دلته اړين بولم، د هر ليک په پای کې يوه داسې ټپه چې له ليک سره همغږي لري ليکل شوې ده، چې دې کار د کتاب ښايست لا ډېر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوال خپله موخه لوستونکي ته په واضح ټکو کې رسولې ده او د دغه هنري نثر په لوستلو انسان داسې احساس کوي، لکه لیکوال چې د خپل ژوند واقعي کیسه کوي. د کلمو تسلسل ډېر ښه پکې ساتل شوی دی او هر کلمه په خپل ځای له خپلې اصلي او بشپړې معنا سره کارول شوې ده.

که څوک دا کتاب ولولي گمان نه کوم، چې هغه دې داسې احساس وکړي، چې پر کاغذ لیکل شوې تورې کرښې لولي؛ بلکې په لوستلو به يې په کتاب کې شته صحنې یا په خپلو خیالونو کې انځوروي او یا به داسې احساس کوي چې کوم فلم گوري.

کتاب لنډ، خو خوندور دی. انسان يې په لوستلو نه ستړی کېږي. په ټوله کې دغه هنري نثر په رنگینو الفاظو لیکل شوی دی، ژبه يې خوږه، اسانه او روانه ده او د لیکوالۍ اړینو ټکو ته پکې پام شوی دی.

که موږ رښتیا غواړو چې هنر د هنر او ژوند لپاره ولولو، باید د ښاغلي کریمي له هنري نثرونو استقبال وکړو او له کریمي صېب سره د دغه کتاب په خپرولو کې مرسته وکړو؛ تر څو دا ډول کتابونه چې عامه ذهنیتونه د جگړې او کرکې له فکرونو نه لرې ساتي او د هنر په ښکلا يې سمبالوي، د ټولنې ټولو اتباعو ته ورسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په پښتو کې داسې تصویري او په مانا د درنو تورو نورو کتابونو ته هم اړتیا لرو او په کار ده، چې ځوان لیکوالان په دې برخې کې خپلې هڅې ګړندۍ وساتي او پښتو ته نور داسې ارزښتمن کتابونه ډالۍ کړي.

ښاغلي محمد اسماعیل کریمي ته د دې اثر د پنځېدو مبارکي وایم او د لیکوالۍ په ډګر کې لا بریاوې ورته غواړم!

په درنښت

عایشه (حیدري)

۱۰/۱۱/۱۴۰۱

کابل، خپله مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیل خبرې

زمونږ له ډلې اکثریت د جګړې په تړاو د دې ډول فکر درلودونکي دي، چې جګړه یوازې مړي او ټپیان تولیدوي؛ خو نه!
د جګړې اغېزې ډېرې پراخه دي، نه یوازې چې جګړو مونږ څو لسیزې بې کوره، بې وطنه، وږلي او ټپي کړي یوو؛ بلکې زمونږ چلندونه، کړنې، اخلاق، باورونه، افکار او په لویه کچه یې معنویات هم را ټپي کړي دي.

مړي او ټپیان د جګړې بارز اړخ دی، چې تر ډېره یې ټول وینو؛ مګر هغه نور اړخونه چې زمونږ له سترګو پټ دي، هم پر انسانانو اغېزې ښندي او د دوی په بېروني کړنو او اندروني جذباتو، احساساتو او کیفیاتو کې د وحشت، وېرې، کرکې، بدبینی، غوسې، درواغو، دوکې او نورو ګڼو بدو کړنو انګېزه ټوکوي.

که د واقعیت له عینکو د خپلې ټولنې جاج واخلو، درک کوو، چې له کشره نیولې تر مشره، له باسواده نیولې تر بې سواده، له نظامي نیولې تر غیر نظامي، له ښاري نیولې تر اطرافي او داسې ټول بې نظمي خوښوو، وحشت کوو او خپروو یې، په هره معامله کې د دوکې هڅه کوو، درواغ مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسب گرځېدلی، پر یوې کوچنۍ کړنه او خبره غوسه کېږو او مقابل اړخ ښکنځو، له یو بل مو دومره کرکه راځي، لکه په لوند سپي چې د لاس وهلو څخه کرکه لرو. په واقعیت کې دا د جگړې هغه اغېزې دي، چې له مونږ ډېری یې د جگړې اړوند نه تعریفوي.

بناءً؛

هغه کار چې د بل چا د وس له امکانه وتی وي، لیکوال یې په ډېره غوره بڼه ممکنولی شي. په ټولنو کې د لیکوالو مسوولیت توپیر لري، زمونږ د ټولنې د لیکوالو مسوولیت دا جوړېږي، چې د وگړو په عاطفي کولو کې نقش ولوبوي؛ ځکه زمونږ د ټولنې چاپېریال جگړه ییز او په بارودي لړو پوښلی دی، اړتیا ده چې وگړي عاطفي وروزل شي؛ تر څو ټولنه د سم مسیر پر لور روانه شي او وگړي یې د غوره ژوند څخه برخمن شي.

د دې لپاره چې د وگړو د جمالیاتي اړتیا او ادبي ذوق په خړوبتیا کې مې ونډه لرلې وي، حاضر اثر (**زه میین نه یم!**) د لیکلو هاند مې پیل کړ. له دې اړخه هم د دې کتاب لیکلو ته مې لېوالتیا زیاته وه، چې مونږ مینې او مهربانۍ ته شدیده اړتیا لرو؛ نو هغه لیکنې چې محتوا یې په مینې او مهربانۍ را څرخي، باید وپنځول شي، تر څو د جگړې د اغېزو په کمښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې موثر تمام شي او د ذهني سکون په ترلاسه کولو کې د مثمريت سبب وګرځي.
په پای کې له تاسو ټولو قدرمنو لوستونکو مننې، چې خپل ارزښتمن وخت د کتاب په لوستنې سره لا قيمتي کوئ، د خپل ذهن د سالمې روزنې او ودې په پار هاند کوئ.

قدرمنو لوستونکو!
اعترافاً د نورو ټولو بشري هڅو او کړنو په څېر زما ليکنه هم د انساني ذهن تخليق دی، چې حتماً او لازماً به نيمګړتياوې لري؛ نو په خورا مينې ستاسې د نيوکو، وړانديزونو، مشورو او تشويق غوښتونکی يم، د نيمګړتياوو په را ښودلو کې مو د لوړ جرأت دعا غواړم.

په پښتنه او افغاني مينه**!**
محمد اسماعيل (کريمي)
ننګرهار، کوټ ـ خپله حجره

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

ونه خو نه وم، چې په خزان سره مې پاڼې رېژېدلې وای، انسان وم او د انسان په خزاني کیفیت کله نیمګړي انسانان په اسانۍ سره پوهېدلی شي، لکه د پاڼې په څېر د خزان بې رحمه بادونو د ځانګې بېلولم، دا شېبې د بېلتون وې، د جانان یې جدا کولم.

د پارک په اوږده څوکۍ ورسره کېناستم، ما یې سترګو ته د مخامخ لیدلو توان نه درلود، نظر مې پر ځمکه خښ ؤ، د زړه خبرې مې په ستوني کې ورکېدې، داسې احساس مې کاوه، لکه د غړ څخه چې محروم شوی اوسم، وار په وار یې پوښتلم، ما خبرې نشوای کولې، کتابچه مې ترې کش کړه، ومې لیکل:

په نوستالوژیک حالت کې انسان که باطناً بې سیکه او خپه وي، ظاهراً هم پرې د خپګان اثرات جوت وي. مړاوې څېره، نیمګړې خبرې، ستړی مجلس او ړنګ قدمونه یې د ظاهري مات‌والي ډېره ښه تشریح او توضیح کوي. کتابچه مې ور مخامخ کړه، کرښې یې ولوستې، را ویې کتل، د پوښتنې په انداز یې لاسونه خلاص کړل. بیا مې ولیکل:

انسان د ونې په څېر نه دی، چې په خزان سره یې پاڼې ورېژېږي او بې له کومې ستونزې خلک پرې وپوهېږي، چې خزان یې پیل شو. نه! انسان بېل خزاني کیفیت لري، چې دا خزاني کیفیت د هر چا د درک قوه نه‌شي کشفولی، هغوی چې د انسان خزاني کیفیت محسوسوي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعیت کې ځیرک او بادرکه اشخاص وي، په شعوري لحاظ تر نورو د مخکښ‌والي ویاړ لري.

تر همدې ځایه مې ولیکل، ور ومې کتل، هڅه مې وکړه چې خبرې وکړم، مګر بیا هم ونه توانېدم، بېرته مې سترګې په کتابچه کې وګنډلې، ګوتې مې وخوځېدې:

انسان که ناطق دی، د خزاني کیفیت په توضیح او تشریح کې ډېر کله د غیر ناطق مخلوق په څېر دریځ او موقف نیسي، ټول انساني خزاني کیفیتونه یو شان نه دي، ځینې ګوښه نشین شي، وژاړي. ځینې بیا یو چا ته تر غاړې شي، کلک - کلک ورسره وژاړي او ځینې بیا داسې دي، چې په زړه یې تېروي، ځان خوري.

د وصال شېبې ورو - ورو نږدې، وخت اجازه نه راکوله چې زیات تم شم، زړه مې را ډک شو، د خبرو کولو او غږ ویستلو توان مې نه درلود، داسې وم لکه ګونګی.

ور تر غاړې شوم، کلک - کلک مې وژړل. هڅه یې کوله چې ارام مې کړي، مګر ما د جدایۍ لمبې لیدلې او پوهېدم چې دا لمبې به مې څو شېبې وروسته داسې وسېځي، چې زخم به یې ډېر ژور وي. ما یې لاسونه کلک ونیول، ځان مې ور نږدې کړ، بې اختیاره مې له خولې ووتل:

د بېلتانه کیسې شروع دي

ما د لالي لاسونه کلک نیولي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

څنګ ته یې نږدې ولاړ وم، را کتل یې، مګر ما داسې ښوده، چې ګواکې نه یې وینم. موبایل مې هسې غوږ ته ونیو، د جوړ په خیر وروسته مې وویل:

- خدای دې زړه داسې چا سره مه لګوه، چې د غرور سمندر یې هر وخت طوفاني وي، داسې طوفاني څپې چې ستا د ګرانښت ماڼۍ نړوي. ستا انساني هڅې او مهربانۍ نه توانېږي، چې د تیږې په څېر کلک زړه کې یې ځای پیدا کړې. ته به هڅه کوې چې ځان ور نږدې کړې، مګر دومره بې تفاوته چلند به وکړي، چې د بشپړ انسانیت دې زړه موړ شي.

غلی شوم، یوه شېبه مې داسې تمثیل کړه، چې ګواکې مقابل لوری اورم، بیا مې خبرې پیل کړې:

- ستا به د سترګو تور وي، د زړه درزا به دې وي؛ مګر تا سره به د یو ناپېژاند او عادي انسان په څېر تعامل کوي، درد به دې ویني، خو پر وړاندې به دې بې پروا وي، له زړه به ګیله‌من شې، چې داسې انسان سره څنګه او ولې لګېدې؟ وګوره ستا خیال اوس ساتي که نه؟ هر وخت دې دردوي.

د سترګو له کونجونو مې ور وکتل، د لیدلو او اورېدلو دواړه حسونه یې په کار اچولي وو، ما خو داسې موقع له خدایه غوښته، غږ مې لوړ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه‌پوهېږم د ګرانښت او مینې فریکونسي به دې دومره لوړه نه وه، چې د هغه د زړه تر غوږونو رسېدلې وای او یا به د هغه له‌پاره ارزښت نه‌لرې.
نور مې نه غوښتل چې خبرې اوږدې کړم، په پای کې مې زمزمه په لوړ غږ داسې پیل کړه:

یاري د سیال سړي مزه کړي

ځان ته به ګوري، ستا به ډېر قدر کوینه

****

انځور یې رالېږلی ؤ، هماغه انځور چې د ښار په غټې ایسکریم خونه کې مو اخیستی ؤ، ور لاندې یې په پیغام کې لیکلي وو:
- څه در یاد شو؟ د ایسکریم شریکه!
«ته» راسره نه یې، ایسکریم خونه کې دې څوکۍ خالي ده. دلته زه ستا تشې څوکۍ ته په لیدو ویلي شوم او ایسکریم ما ته په لیدو ویلي شو.
ومې لیکل:
- هو! ډېر څه را یاد شو.
هماغه شېبه چې د ایسکریم ککو دې پر پوزه وموښه، بیا دې پوزه زما د پوزې سره وموښله. ښه شېبه وه، خوند یې کړی ؤ.
خاطرې او یادونه که ښه یا بد وي، خو په حال کې یې یادون ډېر خوږ وي، ښې خاطرې یادول به دې خوښ کړي او د څه شېبې لپاره خندا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پر شونډو راولي او بدې خاطرې يادول به تجربې درکړي، پوه به دې کړي.

د همدې ورځې په مازيگر ايسکريم خونې ته ورغلم، هماغه ککوي ايسکريم مې را وغوښت، ککو مې پر پوزه ومونښه، خو شتون يې نه درلود، چې په ککو ککړه پوزه مې ورسره مونښلې وه.

د ايسکريم شريک انسانه!

ځينې خواږه په شريکه خوند کوي، که شريک ونه خوړل شي، لکه حرام چې خورې.

ما ته دې لړې شپې بهانه کړې
تا د بېلتون په غرونو واړول کلونه

****

له خولې مې هسې دا بيت ووت:

زه چې در مېين شوم، د هر چا پام مې در واړوه
وايه کنه مشهور په ټول جهان مې کړې، که نه مې کړې؟

قدمونه يې سست شول، په حيرانتيا يې را وکتل، په پوښتنيز انداز يې لاسونه خلاص کړل:

- نو تا کله ويلي، چې را باندې مېين يې؟

موسک شوم، څه شېبه مې ور وکتل، بيا مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اړینه ده، چې خامخا د الفاظو اظهار وشي؟
نه یې حس کوې، چې په وړه خبره در څخه مرور یم؟
په وړه خبره او کار در څخه خوشال یم؟
د ورځې پیل او پای کې دې د لیدلو غوښتنه لرم؟
ستا پر وړاندې د ډېرې وارخطایي مې تندی خوله - خوله وي!
چې درسره ولاړ یم، روغې خبرې مې نیمګړې وي؟
څومره ګیلې دې سترګو ته قطار ودروم؟
ته د لاس راکولو هڅه کوې، مګر زه غبرګه غواړم؟
نه‌پوهېږم!
یا مې احساسات نه‌شې درک کولای او یا خورا لېواله یې، چې په علني ډول مې د مینې د اظهار ناره واورې.

چې ما ویلی تا منلی
تا به د دې یارانې خوند لیدلی وونه

****

د بوټ په څوکه مې ځمکه ګروله، ور ومې کتل. دېوال ته یې تکیه کړې وه، سترګې یې برګې کړې:

- خاورې به ارزانې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې؟
- نه دې خندا شته او نه ادا!
- دا د خنداګانو او اداګانو ځلي ستا جوړ دي.

له غوړونو یې کش کاږلم، ما چیغې وهلې، هڅه مې کوله، چې ځان ترې خلاص کړم، مګر ونه توانېدم، اخ مې کړل، داسې مې تمثیل کړه، چې ګوندې غوږ مې په درد شو، کېناستم، سر مې ټيټ کړ.

وارخطا یې یوه خوا او بله خوا کتل، څېره یې له خپګان ډکه ښکارېده، لاس یې زما د زنې لاندې کړ، سترګو ته یې را وکتل، تمثیل مې جاري ونه ساتلی شو، ومې خندل، نازک سوکان او څپېړې یې په سینه راکړې، چیغې یې کړې:

- ارزاني او ابادي شوه.
- خوب دې ولیده؟

له پوزې یې ونیولم، کلک - کلک یې وسکونډلم، ویې ویل:

_ کانکرېټه! ایله مې چې ستا خندا ولیده.

اخ! هغه وخت به کانکرېټ وم یا نه؛ مګر اوس په رښتیا یم. نه مې یادېږي چې د تګ وروسته یې ما کله خندلي وي. ما چې خندلی شو، سترګو یې انرژي را کوله او د هر درد په هېرېدو کې یې زما خیال ساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس چې دا را وبه يې کتل، لکه نړۍ چې بې نفرته شي. ډاډ - حوصله - نرمي - مهرباني به يې زما په وجود کې زرغون کړل، هره بده ځانګړنه به يې را څخه وتوړله.

يو داسې انسان به وم، چې ډېرو به غوښتل، د ملګرتيا په تکل راسره ځو شېبې تېرې کړي؛ مګر اوس يې نشتون داسې کړی یم، چې څوک مې لا په څنګ کې د کېناستو زحمت نه کوي.

ومنئ! ځينې مونږ سره د عادي انسانانو په څېر ګرځي؛ خو په حقيقت کې دوی معجزې لري، همدا چې په هېڅ څيز نه رغېږو، د دوی يو دوه خواږه الفاظ مو رک - روغ کړي او چې کله نه وي، په ځمکه قدم ايښودل خوند نه کوي.

که چرته کېږي بېرته راشه
قسم دی ياره ځمکه خوند نه راکوينه

****

تا ته د جار او قربان نارې دومره ډېرې وې، چې زما د غږ فرېکونسي پکې ورکېده او ما ونه شو کولای، چې خپل رښتينی ګرانښت په کمزورو الفاظو سره، ستا د زړه تر غوږونو ورسوم.

ستا د ښايست راج چلېده، که به چا کار درلود يا نه؛ مګر تا سره به يې د خولې ګډولو هڅه کوله، خپله د ديدن تشه ځولۍ به يې ډکه وړله. له تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم لار ورکه وه، چې څوک راسره رښتینی ګرانښت لري او څوک هسې ګرانښت تمثیلوي.

نور څوک خو پرېږده، ومنه چې دا مې هم پېرزو نه شي، چې ته دې په هینداره کې ځان ته وګورې. تا ته که ګوري یا درسره قدم وهي او یا هم درسره خبرې کوي، هغه به یوازې یو کس وي، چې هغه زه یم.

ستا د وجود د غړو سربېره ما ته یو څه نور هم ګران دي، هغه لارې چې ته پرې ځې را ځې. هغه ځایونه چې پکې ناسته کوې او هغه دوکان چې ته پکې چاکلیټ او ککوونه اخلې.

هو، رښتیا!

هغه د رخت ټوټه چې ته پرې هر سهار خپلې عینکې پاکوې. ستا عینکې را باندې ډېرې ګرانې دي، پوهېږې چې ولې؟ ځکه یو خو ستا شفابخشې سترګې له دوړو او ناپاکه هواګانو ژغوري او بل ډېر ځل یې ما ته تا سره د خبرو کولو موقع راکړې ده. یاد دې شي په دې پلمه به مې در څخه عینکې واخیستې، چې څنګه پکې ښکارېږم. تا به هسې حیرانتیا تمثیل کړه، سترګه به دې کېکاږله، وبه دې ویل، څومره ښه ښکارې.

هماغه انځور مې د کمپیوټر پر سکرین ځړولی دی، چې ستا عینکې مې په سترګو کړې او ګډ سیلفي انځور دې واخیست. د کمپیوټر له کاره چې ستړی شم، ژر صفحه بنده کړم، عمومي سکرین ته راشم، چې ودې ګورم، ټوله ستړیا مې هېره شي، نوې انرژي واخلم او بیا په کار اخته شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام چې له کاره رخصت شم. هماغه وروستی د لمر غروب را په زړه شي، چې ما او تا سره جدا کېدلو، سترګې مې ډنډ شي، تورې عینکې په سترګو کړم، چې اوښکې مې څوک ونه ویني. شاعر څومره ښه ویلي:

په ما قیامت و اخري ماښام و
زما او ستا چې بېلېدلې لارې

****

که یو څوک په مینه نه پوهېده او یا یې درک کولی نه شوه؛ نو دا په دې معنا نه ده، چې مونږ دې ورسره مینه ونه کړو؛ ځکه دین، اخلاق او نزاکتونه دا ایجابوي، چې د کوڼ، ړوند او معیوب سره سلام او همکاري وکړو.
ځینې مینه غواړي؛ مګر د مینې په چل نه پوهېږي، یا ترې افراط کېږي او یا ور څخه تفریط کېږي، کټ - مټ لکه لومړی ځل چې څوک دېګ زده کوي، د مالګې او غوړو اندازه یا ترې ډېره زیاته وي او یا یې ډېره کمه کړې وي. دوی غواړي چې ښه دېګ پوخ کړي؛ مګر په چل یې نه پوهېږي، نو د دې دېګ څخه خوراک باید په ډېره مینه وشي او پخوونکی زړه توری او ناهیلی نه کړو؛ بلکې ډاډ ورکړو او ویې هڅوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هم همداسې وې، کله به دې مينه دومره ډېره شوه، چې ټولې ګيلې به دې زما ختمې کړې؛ مګر کله به داسې بې مينې شوې، چې له ژوند به دې زړه را تور کړ.

تا مينه غوښته او کوله، خو په چل يې نه پوهېدلې او يا چا مينه بل ډول درته تعريف کړې وه، شايد تا ته يې مينه د دوکې په ډول در پېژندلې وي؛ مګر مينه داسې څه نه دي، چې هر څوک دې ورته تعريفونه وکړي. مينې ته تعريفونه مه غواړه، فقط کوه يې. پرته له مينې انسان هېڅ دی.

يوه خبره به درته وکړم، د هېڅ لقب ارمان نه راځي، لکه څومره چې د دې لقب پسې هڅه او ارمان کوم، چې زه دې د مينه ناک انسان په توګه د انسانانو تر منځ مطرح اوسم.

تا ته هم وايم، تل هڅه کوه چې د مينه ناک انسان لقب وګټې. لقبونه ډېر دي، څوک د شتمن لقب او څوک د واکمن لقب غواړي، دا لقبونه يوازې د دوی د شتمنۍ او واکمنۍ پورې محدود يادېږي؛ مګر که د مينه ناک انسان لقب دې ګټلی و، هر وخت به په زړونو کې ځای لرې.

دا لقب ګټل ډېر سخت نه دي. که دې ښايست لاره، غرور مه کوه، که دې شتمني لرله، هم غرور مه کوه او که دې واک لاره، بيا هم غرور مه کوه؛ بلکې د مينې او عاجزۍ ډک چلند کوه. ستا ښايست، ستا شتمني او ستا واکمني به تر ډېره د خلکو په زړونو راج کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړم درته ووایم، تا لپاره زما په زړه کې د ګرانښت رېښې ډېرې ژورې دي. دې رېښو ته د مینې له چینې اوبه ورکوه، د غرور په وچکالۍ یې مه سېځه. ما بوج مه ګڼه، که ځلرویشت ساعته وخت نشې راکولی، ځلرویشت ثانیې وخت خو راکولی شې، قبولې مې دي. ستا د نظر او ارزښت وړی یم.

داسې بې سره دې عادت کړم

چې ودې نه وینم پیریان مې ونیسه

****

د خپګان علت مې ترې وپوښت، ویل یې:

- بد عمله یې!

- په‌دې بد عمله یم، چې:

سېګرټ څکوم؟

سندرې اورم؟

فلمونه ګورم؟

مخ یې را واړوه. د چوپتیا لمن یې ونیوه، د شېبه ځنډ وروسته یې خبرې پیل کړې:

- نه! تا خو ټول هغه کارونه یاد کړل، چې ټولنه یې بد بولي. هغه کارونه به دې یاد کړي وو، چې زما لپاره بد وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لکه څه؟

- په‌دې بد عمله یې، چې:

سترې مشې د ګوتو په څوکو کوې، غبږ دې هېره وي.

شبېه وي، چې سترګې جنګ غواړي؛ مګر ته ځمکې ته ګورې.

د دې پر ځای چې لاس مې زور کړې، په جېب دې ننویستی وي.

زما غېږ وي، خو تا دېوال ته تکیه کړې وي.

له ډېرې وارخطايي په خپلو ویښتانو کې ګوتې تېروې؛ مګر ما ته موقع نه راکوې، چې ویښتانو کې دې ګوتې ووهم.

- ښاا، په دې نېکعملۍ خو مې در ګډ بوله!

د یو زړګي نه بل ته لار وي

چې زما خوښ یې ستا به ولې بد راځمه

****

ډېر کله خو داسې هم شوي، چې له ورایه به مې پر یو چا نظر ولګېد، کټ - مټ ستا په څېر به راته وایسېد، ستا په څېر جامې او بوټان به یې پر پښو وو، د لېوني په څېر به مې ور منډې کړې، په اوږه به مې لاس ور کېښود، وړاندې له دې چې ور تر غاړې شم، مخ به یې را واړوه، په بخښنې غوښتو به ترې را ستون شوم.

کله به مې ستا د خندا په څېر خندا واورېده، نېغ به ودرېدم، څیر به شوم، چار چاپېر به مې سترګې وګرځولې، هر تېرېدونکی به مې له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر کړ، مگر هېڅ به مې ونه موندل، پر مات نظر به مې د مخلوقاتو څېرو ته ور کتل، خو ته پکې نه پیدا کېدلې، ځینې به ستا په سټایل ولاړ وو، موبایل به یې غوږ ته نیولی و، خو د مخ را اړولو سره به یې شته هیلې هم را وربېژولې.

یو وخت له داسې پېښو نور ستړی وم. تر هغې به یې چې مخ را اړولی نه ؤ، په چا پسې مې منډلې نه وهلې، ورته به ځیر وم، چې د مخ را اړولو مهرباني وکړي؛ مگر وېره راسره پیدا شوه، که داسې د مخ را اړولو په تمه پاتې شم، شاید ستا قیمتي او ارزښتناک دیدن له لاسه ورکړم.

بیا به مې منډې کړې، چې فقط ستا په څېر د ویښتانو سټایل به یې لاره، یا یې ستا د جامو په رنگ جامې پر تن وې او یا یې تا ته ورته قدم واهه، ور پسې به وم، چې ور نږدې به شوم او مخ به یې را واړوه، بیا به مې په بخښنې غوښتو ځان خلاصوه.

یو ځل خو داسې هم راسره وشو، چې پر یو چا مې سترگې ولگېدلې، پوره یقیني شوم، چې همدا ته یې. منډه مې کړه، پرته له دې چې غږ وکړم او یا یې پر اوږه لاس کېږدم، نېغ ور غاړې وتم. لاسونه مې ترې کلک - کلک چاپېر کړل.

تر ډېره ورسره غېږ په غېږ وم، مگر ستا په څېر یې په غېږ کې ټینگ ونه نیولم، په اوږه یې سر راکېښښود، په غوږ کې یې راته غلي په لېوني ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل، د غېږې ګرمي مې حس نه کړه، د وجود وږم يې له ځانه ورک نه کړم، په زړه مې وخوړه، چې نا اشنا کس ته دې غېږ ورکړې.

غېږ مې خلاصه کړه، له ډېرې حيرانۍ يې خوله وازه پاتې وه، لاسونه يې د پوښتنې په انداز خلاص کړل، ما ځواب نه لاره، غلی ولاړ وم. ژر مې لاسونه د بخښنې په دود ونيول، سر مې ټيټ کړ، خندل يې، چې ور ومې کتل، سينې د پاسه يې لاسونه نيولي وو، د زړه شکل يې جوړ کړی و.

ترې روان شوم، ځان سره مې کرل ربېل، چې ستا د ښېرې په لټون به لا ګومره نابلدو او پردو ته ور غاړې وځم، ځان سره په خندا شوم، منډه مې کړه، د مرحوم افضل شوق دا بيتونه مې په لوړ غږ زمزمه کړل :

څوک چې ګوري راته

وايم دا به ته يې

څوک چې خاندې راته

وايم دا به ته يې

دا به ته يې

دا به ته يې

دا به ته يې

بس په دغه رنګه زه په دا او دا کې

په لټون ستا د ښېرې د سلو يار شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

وخ! څه خوږ درد لري، چې اشنا سترګې دې نا اشنا کړي. ژر زړه ته پټ لاس ور وړي، څړیکې یې حس کړې، سترګې پټې کړې، سر ښکته ونیسي، اوښکې را وخوټېږي، ځمکه وچورلېږي، سر دې دروند شي، بلاخره دا ستر درد لمبه وکړي او په سکروټه اسویلي بدل شي.

خپل محبت دې مخ‌ته ودرېږي، کټ - کټ وخاندي، سترګې یې ډنډ وي، لګیا شي:

- نه مې درته ویل، چې دې خلکو سره ډېر مه صادقه کېږه، دوی مینه نه هضموي، هر وخت دې د احساساتو سره مرګونې لوبې کوي، د بې وفایۍ کبرجنې څپېړې درکوي او که وس یې وشي، د خځلې په څېر دې په ډېران غورځوي.

په ځان به دې زړه وخوږېږي، خپلو سترګو ته به خجالت اوسې، چې د راتګ لارو ته یې څومره منتظرې پاتې شوې وي، څومره یې ژړلې وي او څومره خلک یې د ده لپاره محوه کړي وي؛ مګر څه پایله؟

دا پایله نو کله منصفانه وي، هغه سترګې چې تا پرې د ټولو انسانانو د سترګو څخه زیات ډاډ لاره، ودې نه پېژني، پردی دې وګڼي او بل چا سره موسکې شي.

د مرګ د راتګ شېبه وي؛ مګر چې نه راځي، ممکن او ممکن بیا هم سترګې د هغه بې‌وفا لپاره د څو مرګونو شېبو د ژوند غوښتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وفايي مې کړې نه ده
که ته اوبه را خړوې بې وسه يمه

****

د يوازېتوب موقع به مې له خدايه غوښته. تياره کوټې ته به دننه شوم، په کټ به اوږد وغځېدم، گوشک به مې په غوږونو ننويستل، لاسونه به مې په سترگو کېښودل، ستا ثبت کړې خبرې او خندا به مې چالان کړه.
هره خبره دې ما يو ځل نه؛ بلکې په ځلونو اورېدلې. له ويډيو مې ستا خندا بېله کړې وه، چې به مې کوچنۍ موقع ومونده، ژر به مې په موبايل کې را واړوله، ورته به ناست وم، نه پوهېږم چې څومره وخت به را باندې تېر ؤ؛ مگر چې د موبايل بېټرۍ به مې وکتل، د چارج وروستۍ شېبې به يې وې.
په څومره سخته کې مې وپاللې، د زړه وينې مې درکړې، خو تا دومره ژر هېر کړم، چې هېڅ توقع مې نه درلوده. په تا مې د باور گراف دومره لوړ ؤ، لکه يو ولسمشر يې چې پر خپل دفاع وزير لري. تا هېڅ څيز ته ونه ليدل، په ژړا دې کړم، خو ارام دې نه کړم.
ته به يې باور نه کړې، چې کله عطار ته ورشم، وايي کومه خوشبويي درکړم؟ ژر ورته ووايم، هغه خوشبويي راکړه، چې چا ته جانان ور په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. عطار هم لکه زمونږ د حاله چې خبر وي، هماغه خوشبويي راکړي، چې تا به کاروله او مونږ به دې پرې د ځان مريدان جوړولو.

د هماغه خوشبويي په سلګونه تش بوتلونه مې ساتلي دي. په فارغ وخت کې مې مشغولا وي، يو - يو را اخلم، داسې تمثيل کوم، لکه ته چې ما ته د خوشبويي ډالۍ راکوې او زه يې در څخه په مينه قبلوم. خلک مې د دې خوشبويي د نوم په تړاو پوښتي، ژر ورته ستا د نوم لومړنی او وروستی توری د خوشبويي د نوم په توګه ياد کړم.

په ژوند کې هېڅ نه غواړم، همدا خوشبويي بسنه کوي، چې پرې وپايېږم. بايد درته ووايم چې د بېلتون تاب دې نه لرم، کاش! کوم غر ملګری مې لرلی، چې د بېلتون په زغملو کې يې همکاري راسره کړې وای.

بېلتون دې داسې احساسېږي

لکه چې ګوته دروازه کې ګېره شينه

****

د وتس‌اپ په زنګ را ويښ شوم، را ياد مې شو، چې د خبرو وعده مې ورسره وه. ژر - ژر په ځای کې را نېغ شوم. کمپله مې له ځانه را تاو کړه، د اوکی تنۍ مې کېکاږله، کېمره چالان شوه، غږ يې را ووت:

ـ پوره مې نه کړې د ځوانۍ خوبه

ذره ـ ذره يم د مېينتوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې خندل. سترګې مې وموښلې، تکيه شوم، ورو مې وويل:

- يوازې خوب نه؛ زموږ د ځوانۍ څه پوره شوي؟

- بيا دې ګيلې شروع کړې؟

- خامخا!

اړيکه يې پرې کړه. موبايل مې پر بالښت کېښود، پورته شوم، هينداري ته ودرېدم، ويښتان مې منظم کړل، جيک مې را پورته کړ، بيا د زنګ غږ شو، ګيلاس مې را واخيست، د کړکۍ تر څنګ ودرېدم، د اوکی تنۍ مې کېکاږله، کېمره مې ګلانو ته ونيوله، غږ مې کړ:

- دا ګلان ووينه، ګوندې غوسه دې لږه ارامه شي.

- چې ته يې ګورې، بسنه کوي، ما ته يې مه را ښايه!

- نو ته څه غواړې؟

- ځان راووينه ګلابه!

ومې خندل. کېمره مې سرو ګلابو ته ونيوله، پرې غږ مې کړ:

- چې ځان در باندې ووينم، په بدل کې يې څه را کوې؟

- يو سوک او يوه څپېړه!

- په کوم ځای؟

- سوک په سينه او څپېړه په څټ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکه مې پرې کړه. منډه مې واخیسته، عینکې مې په سترګو کړې، چمن ته ووتم، په چوکۍ کې کښناستم، زنګ مې ور وواهه، کېمره مې ځان ته مخامخ کړه، ومې ویل:

- په زړه دې ارمان مه شه، ګلاب دې وګوره!

- بد نظرونه دې ړانده وي، ځواني دې نصیب شه ګلابه!

- ډېرې ستاینې مه کوه نو!

- ته سوځه، د خپل ګلاب ستاینې کوم، بخیله!

غلی شوم. عینکې مې له سترګو ایسته کړې، را غږ یې کړل:

- د ګلاب سترګې مې څنګه پړسېدلې ښکاري؟

- حال یې مه پوښته!

- بس کړه نو، سمه خبره وکره!

- چې ښه پوهېږې، ولې مې ځوروې.

- نو ما خو درته سهار د خبرو وعده درکړې وه.

- ما ته تر ناوخته خوب نه راته.

- ولې؟

- خو خبرې دې راسره نه وې کړې.

اوف یې کړل. څه یې ونه ویل، اړیکه پرې شوه، د مېسېج کړنګ شو، لیکلي وو:

په شبګیرو میینه یاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا په دې وېښو شپو کې څه ليدلې دينه

****

راته کتل يې، ومې ويل:

- د ژوند طبيعت داسې دی، چې:

يوه ورځ به دې تر ځنګ وي، بله ورځ به درسره نه وي، يو وخت به سره خوښ يئ، بل وخت به سره خپه يئ، مهمه دا ده، چې يو بل په زړه کې وساتل شي.

سترګې يې ښکته واچولې، ويې موسل:

هو، خو د ژوند طبيعت داسې هم دی، چې يوه ورځ خوښېدل او مينه، بله ورځ خپګان، بيا بيلېدل، بل وخت يواځېتوب او بلاخره د يو بل هېرول.

ور غبرګه مې کړه:

- ډېر په اسانه دې دا خبرې ونه کړې؟

په‌داسې حال کې چې يو بل ته ثومره ګران وي، پر يو بل ثومره پام کوي، يو بل ته نصيحتونه کوي، دا کوه، هغه مه کوه. په يخنۍ کې کورتۍ اغونده، د شپې ناوخته مه ګرځه، د نشو - تماشو لرې تښته، ډېر غوړ او خواږه مه خوره، د ژوند يوه اهمه اړتيا مې يې، شتون دې سکون را بخښي.

خو بيا به هم سره بېلېږي؟ يو بل به هېروي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که د انسانانو یو پر بل گرانښت کېدای شي، بېلتون او هېرېدن خو حتمي کېدونکي دي، که یو وخت در باندې پام کوي، یو وخت به دې د زندان د دېوال په څېر له خطرونو نه‌شي ساتلی. یو وخت که دې د ژوند د خوښیو د بقاء لامل وي، یو وخت به یې په ژوندون د ځان له‌پاره مړ حسابوې؛ تر څو د یو بل هېرېدن را منځ‌ته شي.

که به مې یو ساعت هېرېږې
رب مې دې هېر کړي دا لیکلي کتابونه

****

عادت مې گرځېدلی ؤ، چې فیسبوک پاڼه به مې خلاصه کړه، لومړی به مې پیغام پاڼه وکاته، په دې هیله چې پیغام به یې راغلی وي؛ مگر پیغام به مې ونه موند. ژر به یې فېسبوک پاڼې ته په دې امید ورغلم، چې کوم نوي څه به یې لیکلي وي، درې - څلور کمینټونه او د زړه سټېکر به ورکړم، خو هر څه به پخواني وو او د څه لیکلو مجال به ورته نه ؤ.
انځورونو ته به یې ورغلم. د هر انځور سره لیکنې به مې ولوستې، بېرته به یې تېرو پوسټونو ته را وگرځېدم، بیا ځلي به مې په لوستلو پیل وکړ، هر پوسټ به مې درې - څلور ځل ولوسته، د یو معتبر کتاب د الفاظو په څېر مې هر توری له نظره تېراوه. داسې مې احساسوله، چې دروني معذورتیا مې د دې تورو په لوستنې سره رغېږي او ښه کېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخ! بې لوظه انسانه تا خو داسې څه وکړل، چې د سر دښمن سره يې هم څوک نه کوي. له ټولو دې جدا کړم او بيا دې يوازې پرېښودلم.

ښېرا درته نه کوم، ځکه بيا هم زه دردېږم؛ خو دعا درته حتمي کوم، چې يو ځل دې در باندې څوک گران شي او لکه څرنگه چې دې ما سره وکړل، همدغه ډول چارې درسره وشه. وبه پوهېږې چې گرانښت څه معنا لري؟ يو څوک له نورو بېلول او بيا يې يوازې پرېښودل څومره زور لري؟

ما ته به تل گرانښت لرې، که په دې دنيا وې، يا جنت وې او يا بل کوم ځای وي. له دې ادعا نه تېرېدونکی يم. دا چې تا ونه پاللم او رد دې کړم، زما په گرانښت کې کموالی نشي راوستلی، که ته نه يې، انځورونه دې لرم. د لاس نښې دې لرم. بسنه کوي چې د خپل زړه کيسې ورته وکړم.

زما ياد کې به د تل لپاره يې، کله دې فکر ته را نه شي، چې اوس به يې په زړه او ذهن کې ځای نه لرم، نه! زما زړه او ذهن ستا لپاره وقف شوي او وقف بل چا ته نه ورکول کېږي.

وينه په وينه نه پاکېږي، مگر مينه په مينې زياتېږي، ما سره د هرې نادودې لپاره دې بخښمه، په ژوند باور نشته، که زما له اړخه درته مزاحمت شوی وي، هيله مې ده چې په خپلې بزرگۍ مې وبخښې.

دا ناخاپي مرگونه ډېر شول

جانانه خپل حق را بخښه، خپل در بخښمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

مودې وروسته يې وليدم، ويل يې:

- ډېره هڅه مې وکړه، چې احوال دې واخلم، مګر ونه توانېدم، چې ودې موندم. د ملګرو په بنډارونو کې نه وې، په خواله رسنيو کې نه ښکارېدې، د سيند پر غاړه هم نه وې، د پارک تر هغې غټې زړې ونې لاندې هم نه معلومېدې، د ناستې ځوکۍ مو تشه وه، يوازې همدومره خبرېدم، چې ژوندۍ يې.

ومې موسل، ويل مې:

- د چا چې د نصيب نوم يواځېتوب وي، بيا خو ضرور ده، چې يواځېتوب يې په برخه وي، دا ښه ده چې يواځې يم، غوره بوختيا يواځېتوب دی، لږ به ځان سره پاتې شم، لږ به کتابونه ولولم، څه وخت به کتابونو سره ژوند وکړو، يو څه به ور ځنې زده کړو.

لنډ يې وخندل، ويل يې:

- يوازې ځان سره مه پاتېږه، لږ د نورو سره هم پاتې شه، يوازې کتابونه مه لوله، انسانان هم مطالعه کړه، تا چې يواځېتوب ټاکلی دی؛ نو ژوند کله کوې؟

د شونډو په سر موسک شوم، ويل مې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د يو چا سره مينه کول او بيا يې پرېښودل، د انسان څخه د يواځېتوب ګوډی جوړوي. همدا د انسانانو مطالعه او ورسره پاتېدل وو؛ ځکه خو يواځې شوم.

ماسک يې لرې کړ، پر مخ يې لاس راښکه، ويې ويل:

- سمه ده. ته دې کتابونه لوله، خو داسې نه چې خلک در پسې لګيا وي او بيا خبرېږم، چې ...

خپله يې کړه د بل يې نه اورېده
لېوني يار پسې شيشې خوړلې دينه

****

ما سره به يې چې کوم چلند کاوه، نېغ به مې فکر د ( شهزادګۍ ډيانا) په خبرې را وڅرخېد، هغې ويلي وو:

(( د نړۍ د ټولو مذهبونو خلکو ما سره مينه کوله، يو هغه و، چې ما سره يې مينه نه کوله، د چا سره چې زما مينه وه.))

شهزادګۍ زما د زړه خبره کړې وه، کټ - مټ لکه زما په حال يې چې پوهه درلوده. ما سره هم د مختلفو فکرونو خلکو مينه لرله، ناز يې را کاوه، مګر يو انسان ؤ، چې ما يې د مينې خواږه ونه څکل.

څه عجب قانون د دې دنيا دی، څوک چې دې خوښ شي، د کبر او غرور پر اس سپور وي، هېڅ د مينې پر لار د قدم اوچتولو هوډ نه‌لري، ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ورته ټولې اغزنې لارې د مينې له ګلابونو ډکې کړې؛ مګر هغه ناترسه به له يوې مخې د غرور په طوفان سره د مينې ګلابونه مړاوي کړي.
ته به د اوښکو جرګې ور وړې، هغه به مغرورانه او مسخره ييزه خندا وکړي، ستا د سپېڅلې مينې عظمت به ونګوي، ګرانښت به دې مرور کړي او خپل مغرورانه خوی به بيا تمثيل کړي.
په ځلونو مې ورته تشه ځولۍ کچکول کړه. هېڅ يې را نه‌کړل، تشې لپې مې ورته ونيولې، د مينې له خوږو يې را ډکې نه‌کړې، همېش يې خالي لاسونه له دره شړلی يم او هر وخت مې په‌دې زمزمې سره د زړه تکيه د ډاډ غر ته لګولې ده، چې ...

پرېږده چې اوښکې مې بهېږي
د يار له دره بېنوا راغلی يمه

****

د سرور او خوښۍ هغه ورځې چې ما به د دې خاورينې نړۍ پر مخ په يوې ښکلې جونګړه کې تېرولې، ټولې د يوه شاعر خيال ته ورته وې.کله به مې داسې حس کړه، چې د رنګينو خوبونو په سمندر به لاهو شوم؛ ځکه ما د مينې د لېونتوب د نڅا ننداره نه وه کړې.
له کوم وخت راهيسې چې ما د هغه خوږ انسان د ښايست او اخلاقو مريدي شروع کړې وه، سرور او خوښيو را څخه کډه کړې وه. مستانه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرارتي خنداګانو يې دومره ځورولی وم، لکه بړبوکۍ کې چې وچې خځلې د ځان کنټرول نه لري، په هوا يې کړي، ويې څرخوي او يو نامعلوم ځای يې وغورځوي.

په رښتيا هم!

د مينې ژوند ډېر ښکلی دی، حتی د پسرلي د ګلونو او نرمو وږمو هم ډېر.

مينې ژوند را زده کړ، د ژوند په معنا يې وپوهولم او چې کله د مينې څخه وړاندې ماضي ته سوچ وکړم، تېر ژوند هسې ضايع را ښکاره شي.

د تقدير په دې پرېکړې ډېر خوښ يم، چې د يو داسې چا د ښايست او ښکلي بشر د ژوند پر دښته مې د مينې قافله تم شوه، چې ما ته يې د دې فرصت راکړ؛ تر څو د شپې تر ناوخته د سپوږمۍ او ستورو ننداري وکړم. د خالق تعالی په لا محدوده کايناتو کې د فکر کولو جوهر يې را ولوروه. پر انسانيت د زړه خوږي احساس يې را پياوړی کړ. شاعر څه ښه ويلي دي:

دا د مينې برکت دی چې يې دغسې يو ځای کړو
کنه دومره فکر وکړه ته د کوم ځای او زه د کوم ځای

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅوک د چا له تګ وروسته نه مري، یوازې همدومره چې د پخوا په څېر مجلسونو کې ګډون نه کوي، خندا نه ورځي، د بحث کولو حوصله نه لري، په چا کار نه لري، که څوک پرې کار ولري، ښښنه ترې وغواړي، که بیا یې هم را ټینګ کړي، غلی ترې روان شي، ځای ور پرېږدي.
د دوی ذهن یوازې د یو انسان د نوم له تورو ډک وي. که د دوی د خوښې انسان په تړاو ورسره غږېږئ، وخت در کوي او درسره غږېږي.که ټوله ورځ ورسره د مینې په خبرو بوخت شئ، د سترړیا احساس به ترې ونه ګورئ، لا به درته غوږېږي او په ډېر احترام سره به مو اوري.
یو وخت یې وپوښتلم:
- مینه دې کړې یا څوک درته ګران شته؟
ما هم له ډېرې مودې د ګران کلمه نه ویلې وه او نه مې اورېدلې وه. ښځې له چا سره مې مجلس نه کاوه، چرته ګوښه به ناست وم، کله به مې خندل او کله به غلی وم. مخ مې ور واړوه:
- داسې کله کېدای شي، چې انسان وي او مینه یې کړې نه وي. یا ورته څوک ګران نه وي.
ویې خندل. لاس یې په تندي کېښود، شونډې یې وخوځېدې:
- ما خو مینه نه ده کړې.
- په حقیقت کې مونږ مینه یوازې دې ته وایو، چې هلک دې په جینۍ مېین شي او یا برعکس. مګر مینه له ځان سره هم کېدای شي، له خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی سره هم کېدای شي. کله چې مونږ له ځان سره مینه وکړو، د خدای تعالی سره هم مینه کولی شو، د انسانانو، ټولنې او د خپل هېواد سره مینه کولی شو.

- ته راته دا ووایه، چې ته له چا سره مینه لرې؟

پر موخه يې پوه شم، چې څه غواړي او د څه اورېدو تمه لري، ومې ويل:

- لومړی خو له ځان سره مینه لرم. بیا له خدای تعالی سره او بیا د خدای تعالی له مخلوقاتو سره مینه لرم او په مخلوقاتو کې بیا د ځو انسانانو سره مینه لرم او په دې ځو انسانانو کې بیا یو انسان بېخي ځانګړی و.

- یو انسان څنګه ځانګړی؟

- ځانګړی یعنې له نورو متفاوت انسان. چې هره خبره او کړنه يې خوند درکړي، که بد وکړي د ښو دلیل ورته پیدا کوو، که له مونږ سره خپه شي، بېرته يې مونږ پخلا کوو، بده دې پرې پېرزو نه وي.

سر يې د تایید په دود وښوراوه. ودرېد، غږ يې را ووت:

- مطلب اوس يې د شتون ویاړ نه لرې.

سر مې ځړېدلی و، پر ځمکه مې کرښې ویستې، ومې ویل:

تا ته ګیله نه کړم چې لاړې

ما د قسمت برخې پخوا بایللې دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

جدي ؤ، بحث يې کاوه، مسلسلې پوښتنې يې کولې:

- نه ښايست لري، نه خوږوالی لري، ولې ورسره د چا زړه ولګي؟

ما يې څوکۍ تر څنګ کېښوده، د موبايل سکرين مې ور مخامخ کړ، انځور مې يې ورته را واړوه، قلم مې ورته ونيو، زياته مې کړه:

- اوس يې ليکه، چې ولې ورسره د چا زړه ولګي، ځکه چې:

د رڼو اوبو په څېر يې، هر سړی له ليدو خوند اخلي.

د چنار د سيوري په څېر يې، هر سړی يخ والي ته دمه اخلي.

د ګلاب د ګل په څېر يې، هر سړی د بويولو هاند کوي.

د ملي سرود په څېر يې، هر سړی احترام ته درېږي.

د حاجي په څېر يې، هر سړی د برکت لپاره لاسونه ښکلوي.

چوپ شوم. غوښتل مې د ملګري غبرګون را څرګند شي، په تمه وم؛ مګر هغه قلم په ګوتو کې ټينګ نيولی ؤ، ويې پوښتلم:

- بس، همدومره!

موسک شوم. په سينه مې نازک سوک ورکړ، په غوسه کې يې خندا ګډه شوه، ومې ويل:

- بله دا چې...

يار د صفت محتاجه نه دی

په ګلابونو عطر چا شيندلي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

ترې روان شوم. را منډه یې کړه، کلک یې له لاسه ونیولم، اوښکې یې په سترګو کې ډنډ وې، په سینه یې سر را کېښود، سلګۍ یې شوې:
- د بېلتون تاب نه‌لرم، وژل کوي. د دې ضمانت به څوک وکړي، چې بیا سره ووینو؟

سترګې مې پټې وې، نه مې غوښتل دا شېبه بل څه ووینم، ټوله هڅه مې دا وه، چې د زړه درزا یې په دقیق ډول واورېدلی شم، فکر را ولوېد، په رښتیا هم! څه ضمانت شته، چې بیا به سره سترګې په سترګې شو که نه؟ داسې هڅه مې پیل کړه، چې ګواکې ډاډه یم او د بېلتون له جبر نه وېرېږم. سترګې مې خلاصې کړې، په لویدلي غږ مې زیاته کړه:
- نړۍ د لکونو انسانانو د بېلتون شاهده ده؛ مګر هېڅ څوک هم د چا په تګ نه دی مړ شوی، یوازې او یوازې څو ترخې او خوږې خاطرې - څو شېبې خنداوې - یو څو د لاس نښې - څو ډالۍ شوي ګلابونه او څو جوړه ییز انځورونه د یو چا له تګ وروسته پاتېږي.

سر یې را نېغ کړ، داسې یې را وکتل، چې زما له بدن یې ټولې کرکې وشړلې، په یو جدا انداز یې خپل دروني غږ د سترګو له طریقه را منعکس کړ، ټینګ نه شوم، بې اختیاره مې اوښکې وبهېدې، ستونی مې بند - بند شو، په نښتي غږ مې دا ټپه بدرګه کړه:

ما ویل زه به درته ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا له بازاره سترګې سرې راوړې دينه

****

د واورې بڅرکي په مزه را ښکته کېدل، څرخک يې خوړ، سوچ مې واهه، ژور تللی وم، د موبايل کړنګ شو، پر واټساف مېسېج ؤ، شمېره نا اشنا وه، ليکلي يې وو:

- که فارغ يې کولای شم، څو دقيقې وخت مو ونيسم!؟

موبايل مې سترګو ته نږدې کړ، شمېره مې څو ځل تکرار کړه، په پروفايل يې د ګلابو انځور ځړېدلی ؤ، ومې ليکل:

- وبخښئ! کولای شم وپوهېږم، چا سره د مېسېج ليکلو وياړ لرم!؟

په لومړي مېسېج کې يې زړونه را ولېږل، پسې يې هغه سټېکر را ولېږه، چې مخ ته يې لاسونه نيولي وي. بيا يې ليکل پيل کړل:

- دروغجنه! په خپلې خبرې وختې، ولې هېر دې شو، چې راته ويلي دې وو، ( ځان پېژندنه کې خطا وتلی شم؛ خو ستا پېژندنه کې ماسټر يم.)، اوس اړيکه نيولی شم؟

مسېج مې درې ځل ولوست. يقين مې نه راته، بدن مې يخ شو، له سينې مې کلک لاسونه چاپېر کړل، بالښت ته تکيه شوم، هيجاني حالت مې درلود. ځواب ليکلو ته ناتوانه وم.

بيا يې مېسېج راغی، د سواليې دوې علامې يې را لېږلې وې، منجمد وم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الفاظو قحطي را باندې راغله، فقط ومې ليکل:

- کولای شئ!

اړيکه يې ټينګه کړه. خبرې يې کولې، وار په وار يې پوښتلم، له ما سم الفاظ غلطېدل، لکه د قاضي پر وړاندې چې بيان ورکوم. ويې پوښتلم:

- روغ يې؟ خبرې دې ځنډنۍ راځي.

پر ما خولې را ماتې وې، په لټه وم چې ښه الفاظ را ټول کړم، تر اوږدې شېبې چوپ وم، جاج يې زما واخيست، اړيکه يې پرې کړه، سمدستي يې په مېسېج کې را وليکل:

د محبت ګرمي دې ولېدله

په يخو واورو کې خولې شوې که نه

****

دقيق نه وم، چې څومره وخت به يې د نظر ښکار وم. ما په ټيټ غږ ميوزيک اورېده، انځور کې مې سترګې ګنډلې وې، ګوتې مې د انځور په نږدې کولو او بېرته لرې کولو بوختې وې، ملګرى مې تر څنګ کېناست، سترګو ته يې را وکتل:

- پرېږده يې، دا انځور څه درکوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسکا مې وکړه، هماغسې انځور سره بوخت پاتې شوم. شېبه غلی وم، بیا مې سکرین ملګري ته ور مخامخ کړ، انځور ته مې ګوته ونیوله، لګیا شوم:

- حوصله راکوي. د ځان لپاره، د ملګرو لپاره، د ژوند لپاره! سکون پکې مومم. داسې سکون چې د نورو پر وړاندې پُرسکونه چلند کوم، ډاډه او باوري رویه خپلوم.

مینه راکوي. داسې مینه چې د ځان او نورو سره د مینې کولو انرژي او پیغام را ډالۍ کوي، بشر سره د مینې ټینګار غواړي.

هیلې راکوي، داسې هیلې چې د ژوند هره مړاوې او ایره شوې هیله مې را ژوندۍ کوي، د نېکبختۍ زیري را اوروي.

او تر ټولو ډېر څه چې را کوي، هغه دا چې هر ځل یې انځور وینم، سترګې یې ټینګې وعدې غواړي، چې زړونه رغوه، ماتوه یې مه! ځکه د زړونو ماتول، هغه ګناه ده، چې د ابرهه تر ګناه ستره ده.

ملګري مې په اوږه لاس را کېښود، سر یې د تایید په دود وښوراوه، ودرېد، غږ یې کړ:

دا ځینې خلک زورور وي

چې زړه ته راشي، بیا ترې کله ځي مېینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

سر یې د دېوال سره لګولی و، ښي اړخ ته یې کتل، خوابدي یې له څېرې ښکارېده، ور وړاندې شوم، په اوږه مې سر ور کېښود:
- وړاندې له دې چې مینه مو کړې وای، باید دا فکر مو کړی وای، چې دا خلک او ټولنه مینه هضمولی شي او که نه؟! څوک خو به زمونږ په مینه نه خپه کېږي؟ د چا د ځورېدو لامل خو به نه یوو؟
اخ! مونږ څه وکړل، یوازې مو یو بل ته وکتل، د ځانونو خوښي مو وغوښته. دا مو هېر کړل چې دلته دوه انسانان خوښ ګرځېدل او اوسېدل، د جرم په توګه ګڼل کېږي. د چا په زړه نه ځایېږي چې دوه میین دې وخاندي، وګرځي او خوښ ژوند وکړي. دلته خو هڅې کېږي چې څنګه او په څه ډول دوه یاران - دوه انسانان او دوه میینان بېل کړل شي.
پرته له دې چې را وګوري، ورغوی یې په چپ باړخو راښکه، په دوه غټو سترګو کې یې لس نړۍ غمونه را وځوټېدل، په غنم رنګو باړخوګانو یې د ژوند او مینې رنګونو راج کاوه، شونډې یې وخوځېدې:
- ومنه که د چا بد مې غوښتي وي، یا مې چا ته د بد رسولو اراده کړې وي؛ نو ولې زمونږ ښه نه غوښتل کېږي؟
ما یې سترګو ته کتل، لکه د چینو په څېر خوټېدلې، اوښکې یې ښکته په ګرېوان ور څڅېدلې، د جرأت په تاو مې د لاسونو غټې ګوتې باړخوګانو ته ور وړاندې شوې، اوښکې مې ور وچې کړې، په لویدلي غږ مې ور زیاته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خبره خو همدغه ده کنه، چې تا ته د مینې ژور اړخونه معلوم دي او په دې پوهه لرې، چې د دوو خوږو تر منځ د نفاق او بېلتون تخمونه شیندل، څومره زور لري.
زما خبره یې ونیوله، څمکې ته یې اشاره کوله، ما چې لاندې نظر وکړ، د بوټ تر څنګ مې میږي ګړندی حرکت درلود، را غږ یې کړل :
د مینې زور راته معلوم دی
په میږي پښه نه ږدم چې یار به یې پاتې شینه

****

تیارې خورې وې، رنګا رنګ رڼاوې تر سترګو کېدلې، د کړکۍ پر ژۍ مې زنه اینښې وه، ماښام نوی ښکارېده، ما لا د خونې ګروپونه نه وو روښانه کړي، تیارې او یواځېتوب کلک نیولی وم، د اجازې لطف نه یې کاوه، چې پورته شوی وم او د خونې ګروپونه مې روښانه کړي وای.
زړه نه صبرېده. یا یې دیدن غوښت او یا یې یواځېتوب او تیاره غوښته. دیدن خو را باندې قحط ؤ او داسې ترې بې برخې وم، چې په لرې تصور کې مې هم نه‌شو کولای.
یواځېتوب او تیاره خو خپل واک کې وو، ګیلې مې ورته وکړې، بې وسې مې وړاندې کړه. راته غوږ وو، ذره حرکت مې ور څخه حس نه‌کړ، دومره د مینې قدر یې وکړ، چې په ځان او خپله مینه یې ویاړ را وبخښه، کلک - کلک را غاړې وتل، ویې زغملم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته شوم، په منډه له خونې ووتم، پرته له دمې د پارک منځ ته ورسېدم، ودرېدم، شاو خوا مې وکتل، ځراغونو شین چمن ته ښکلا وربخښلې، نري باد ګلان په نڅا کړي وو، لرګیني څوکۍ ته مخامخ مې ګونډې ولګولې، غیر ارادي را څخه د بدن حرکتونه او خبرې پیل شوې، داسې لکه په څوکۍ چې څوک ناست وي او مقابل لوري مخاطب کړی وي.
د پارک له منځه خلک تېرېدل. را لیدل یې، خندا یې کوله او مسخره یې ګرځولم؛ مګر پوهېدلم چې د دې نرۍ او پېړۍ خلک په څه پورې خندا نه‌کوي، هر څه دوی ته د خندا او مسخرې وړ ښکاري.

څوکۍ ته ور نږدې شوم، داسې اخته شوم چې ګواکې یو څوک شته او پر ما د ځپېړو او سوکانو نازک ګوزارونه کوي، د زړه له زوره خندا راغله، سترګو مې اوښکې وکړې، خندا په ژړا په بدله شوه. د تشې څوکۍ په سینه مې دا ټپه د امانت په توګه ولیکله:

هر هغه ځای ته اوس ژړېږم

چرته چې شوي وو زمونږ ملاقاتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

ځان بختور احساسوم، ځکه حتماً به یو وخت پوښتل کېږي، چې څوک درته گران شته؟ یقیني یم په زړه به دې لکه د باران د څاڅکو را وورېږم.
سترگې به دې ډنډ شي، پټ به په زړه کې زما نوم واخلې.
سوړ اسویلی به وکړې او سر به دې ښکته وځړېږي. په رپېدلو شونډو به ځواب ورکړې، وبه وایې هېڅوک هم نه لرم، چې راته گران وي. زړه به دې ډک شي، منډه به کړې .کوټې ته به ننوځې، دروازه به ځان پسې بنده کړې، پړ مخ به پرېوځې، چېغې به کړې:
- څه عجب انسان ؤ. ډېر راته گران ؤ، پرته له هغه ژوند د پیکه شربت په څېر مزه لري.
تا سره زما لپاره وخت لکه د انځر گل او ما سره ستا لپاره وخت لکه د خزان پاڼې دي. د ښایستونو سترې ببلگې داسې تا سره نه ښایي. تا سره خو خوند داسې کوي، چې د خپل پراخ ښایست په اندازه وخت پېرزو کړې. ومنه هغوی چې زړه یې مات شوی وي او بیا هم درسره د درناوي څخه کار اخلي او د خبرو لپاره دې لېوالتیا ښایي، رښتینې مینه غواړي .
هغه ورځ دې یاده شي، چې لویدیځ ته پرتې ورېځې سره غاړه - غړې شوې. اسمان وغړمبېد. چوپتیا شوه، ورېځې تورې شوې، د اسمان غړمبېدا زیاته شوه، غټ څاڅکي پر مخونو ولگېدل، د خاورو نمجن بوی حس شو، یخ او خوړ باد وچلېد، باران شړکنده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یخني دې کېدله. ژر مې خپل جامپر وویست، ستا له اوږو مې را تاو کړ، ودې خندل، سترګې دې کږې کړې، څه دې ونه ویل. د ونې ډډ ته دې تکیه ولګوله، د باران د څاڅکو په ننداره شو، پر سرک یې پوکانۍ کولې، د ونو له پاڼو څاڅکي څڅېدل.

در وړاندې شوم، په اوږه مې لاس در کېښود، د جامپر تڼۍ مې در بندې کړې. شونډې دې وخوځېدې:

- ګلابه! د خدای تعالی له پاملرنې بې برخې مه شې.

- د پاملرنې یوه بېلګه یې در وښایم؟

سر دې د هو په دود وښوراوه، توجه دې زیاته شوه، ومې ویل:

- ته!

اه!

اوس هر څه ختم شوي ښکاري. تل مې د خپلو ښو پایله، ښه ترلاسه کړې؛ مګر یوازې ستا په مورد کې بد را رسېدلي دي. نه‌پوهېږم چې ولې؟ له ډېره درده انسان لکه په تبۍ د ننې په څېر ترسکېږي، کله یې چې جرم معلوم نه وي او سزا ورکول کېږي.

ستا د وصال په هیله مو ځواني ورژېده. نه را وګرځېدې او نه د راګرځېدو هیله دې لرم. شاعر وایي :

نه پوره شول ارمانونه، نه تعبیر شول ټول خوبونه

د ځوانۍ ناترس دېواله، څه بې وخته را نړېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

خاموشۍ وزرې غوړولې وې. شاو خوا تهول دېوالونه، ونې او تيږې چوپ ښکارېدل، لکه قتل چې شوی وي. مونږ دواړه يوازې ناست وو، چوپتيا حاکمه وه، يوازې د زړونو دربا مو اورېدله.

صبر مې تمام شو. ما يې د ښکلې غاړې لاس را تاو کړ، زما غېږې ته يې سر را ړنګ شو، سترګې په سترګو شو، طبعيت اهنګين شو.

تل يې غوښتل، چې زما په غېږه کې سر کېږدي. لاس مې ور وغځاوه، د تندي له خوا مې په ويښتو کې ګوتې ور تېرې کړې، زما لاس يې ونيو، ښکل يې کړ، په زړه پورې يې ونيو، سترګې يې پټې کړې، شېبه وروسته يې زما د ورغوي ښکلول پيل کړل.

څه ډول يې چې زما په غېږه کې د سر ايښودل خوښېدل، داسې زما د ورغوي ښکلول خوښېدل. د ښکلولو دې لړۍ تر ډېره جريان درلود.

مونږ دواړو غوښتل، چې تر ډېره دې دا لړۍ همداسې غځېدلې وي؛ خو د وخت جبر د اجازې لطف نه کاوه، تر څو خپل زړونه د مينې په خوږو سره معطر او خړوبه کړو.

دیدن د خوار پټې غله ده

نه به پرې مور شې، نه به وترې پنډونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

په زړه مې د خفګان ډوبې تيارې مسلطې شي، د ډېرې تنهايۍ د بام سر ته پورته شم. لاس تر زنې د شين اسمان په غوړېدلي فرش د ستورو نندارې پيل کړم، له سترګو مې د جدايۍ اوښکې په بهېدو شي.

ژر دې انځور را په زړه شي، وارخطاء د موبايل پسې لاس ور وغځوم. په سکرين دې خندنۍ څېره را ښکاره شي، خپلې سينې ته يې نږدې کړم.

له سترګو مې بهېدونکې اوښکې د موبايل پر سکرين ور وڅڅېږي. خندنۍ څېره دې د ژړا نه کولو په پار اشاره کوي؛ خو اوښکې خپل ياغيتوب ښکاره کړي، ځکه د اوښکو سمندر ډېر وخت چوپ و او اوس په خپلو طوفاني څپو سره د چا د ګرانښت لپاره دليلونه تراشي.

عجبه وي، زما له سترګو د اوښکو رودونه بهېږي؛ خو ستا پر شونډو لا هماغسې نرۍ مسکا خوره وي. زه هم حيران شم، چې ولې زما د سپېڅلو اوښکو پسې دې خندا شي؟

زه د پوښتنو په ګرداب کې څرخېږم، چې سترګې دې نورې هم له مينې ډکې شي، مسکا دې نوره هم خوره شي. داسې وانګېرم، چې راته وايې:

- لېـــونيه!

ستا له اوښکو سره زما د زړه وينې بهېږي، ژړا بس کړه، ځکه ستا په ګلاب مخ د اوښکو د سېلاب له امله، بدرنګې لارې جوړېدل نه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې را ډک شي، انځور ته دې ډېرې ګیلې کتار کړم، خو ستا غبرګون یوازې نرۍ موسکا وي، بیا لګیا شم او شفا بخشو سترګو ته دې دا بیت د وروستۍ ګیلې په توګه زمزمه کړم...

ما جرګې د اوښکو در وړې

ته ناترسه په خندا شوې

****

د پخلاینې لپاره یې د پلمې په لټه وم، هېڅ لاره نه را جوړېده، تقریباً له ځلرویشت ساعتونو راهیسې مرور وو، نور ناتوانه وم. په غږ پسې یې مړ کېدم، غږ خو یې ما اورېده؛ مګر په هغه غږ پسې یې ببخي ناقرار وم، چې زه به یې پرې مخاطبولم.

تنګ شوم، چاپېریال راته سور تنور وګرځېد، هر شور لولپه کولم، ګوشک مې په غوږونو ننویستل، هر غږ را باندې د چاودنې په څېر بد لګېده، ارامښت یې را څخه تروړه، غلی وخوځېدم، یو ځای ګوښه کېناستم.

د خښتې غوځه ټوټه مې را پورته کړه، پر ځمکه مې کرښې را کاږلې، سوچ په مخه کړم، پوښتنو په سر واخیستم، د مرورتوب څه ګټه؟ په پوښتنې پسې پوښتنه ذهن کې را زرغونېده، ځان ته مې خیال نه ؤ، شاید د ځان سره مې خبرې کولې او هرې پوښتنې ته به مې ځواب وایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ماتم مې پر وجود ګډ ؤ. زړه مې په ځان پسې دردېده، د مرورتوب ګټه مې ناڅاپي حس کوله، ګرانښت یې را ډېراوه، د ځان سره مې وعدې کولې، چې بیا به یې نه خپه کوم، د ټیپي لاس په څېر به یې پالنه کوم او هېڅ یوې پېښې ته به د دې موقع نه ورکوم، چې حتی د څو ثانیو لپاره دې مونږ له یو بله بېل کړي.

په همدې چرتونو کې وم، نهایي تصمیم مې ونیو، واټساف ته ورغلم، لیکل مې پیل کړل، ګوتې مې ربېږدېدلې، مېسېج لیکل مې بشپړ کړل، بېرته پښېمانه شوم، له واټساف ووتم.

فېسبوک ته لاړم. ومې لیکل:

مسلماني په چا کې نشته

مرور ګرځم څوک مې نه پخلا کوینه

فکر کوم زما ځړونه به یې لیدلې وه، سمدستي یې زنګ را وواهه، له ډېرې وارخطایۍ د اوکی تڼۍ نه کېکاږل کېدله، په یوه نرم غږ یې مخاطب کړم:

نه مې ته شې هېرولی، نه زما له خیاله وځې

ځه پخلا به شو جانانه، زه هم ستړی ته هم ستړی

****

داسې بد یې عادت کړی وم، چې په کنګل ماښام به یې د ښار لوړې برخې ته وخېژولم، په غټو تېږو به وغځېدو، نوې راختلې سپوږمۍ ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو ښه راغلاست ووايه، د ښار فضاء به چې ځومره په ځراغونو رنګينېده، خوشالي به يې ورته کوله او د ډېرې شوخۍ به يې نازک سوکان او څپېړې سينې ته را ونيولې.

خو اوس مې په ماښامونو قاتلې خاموشۍ مسلطې دي، په هماغه غټه تېره يوازې غځېدلې يم، ستوني مې ور پسې د خپګان غوټې کړې دي، د ښار هره رنګيني شکنجه راکوي، سترګې پټې کړم، وژاړم، اوښکې د غټې تېرې په سينه ور مېلمنې شي، ژر ګوته ور وړم، نوم يې چې وليکم، شيندلو ځاځکو ته د يووالي ښکلا ور وبخښي.

ای، کاش!

چې اوس راسره وای، سپوږمۍ ته به مو په غبرګو اوازونو زمزمې کولې، شوخۍ به مو کولای، د هماغه پخوا په څېر؛ چې ځادر به دې را ځخه کش کاږه، تاو را تاو به دې کړ، ځو له شوخۍ ډک ګوزارونه به دې را پېرزو کړل، ما به د درد تمثيل وکړ، ته به را نږدې شوې، ژر به دې د همدردۍ تمثيل پيل کړ.

ستا تمثيل به په خندا کړم. ما به چېغې کړې، تا به له غوږونو ونيولم، تر هغې به دې غوږونه کش کاږل، چې يخنۍ به دې لاسونه وسوځول. ژر به را نېغ شوم، ځادر به مې غبرګ ستا له لاسونو را چاپېر کړ.

په ځلرويشت کلن ژوند کې بد عادت مې چې وليد؛ هغه د انسان سره عادت کېدل ؤ. داسې به دې عادت کړي، چې يوه شېبه دې تر ځنګ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، د لېونې په څېر کارونه او فکرونه به کوې؛ خو چې تر څنګ دې مېشت وي، د ټولې دنيا په بې اعتنايي کې به شپې تمامې شي، تر ټولو ښه احساس به کوې، د يو شتمن په څېر غرور به درسره مل وي.

اوس ناست يم، د خپلو تېرو جنتي ماښامونو په ياد کې مې څو وړې شمعې بلې کړې، ورو - ورو ويلي کېږي، زما د زړه څخه هم د لرغونو اتش پرستو معبد جوړ دی، هېڅ يې اور نه مړ کېږي او نه غواړم چې داسې ژر دې ستا د يادونو پالل پرېږدم؛ تر څو مې چې په رګونو کې د وينې جريان دوام لري، ستا يادونه به لمانځم.

جانانه ستا په جدايي کې

لکه ښارو په چېغو کلي خبرومه

****

د لومړي کتاب د چاپ په پار مې څړونه خپره وه، ګرمې مبارکۍ را روانې وې، چا ډالۍ غوښته او چا يې د ترلاسه کولو ځايونه پسې غوښتل. ناڅاپه يې زنګ راغی، اړيکه مې پرې کړه، په مېسېج کې مې ورته وليکل:

- ډېر وبخښئ! مناسب ځای نه يم.

د غوسې سټېکر يې را ولېږه، سمدستي يې پيغام راغی:

- څنګه دې راته ويلي نه وو، چې کتاب دې ليکلی دی؟

- ته مې حيرانولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر اوسه مې باور نه راځي.
- کله راځې، چې کتاب درته ډالۍ کړم؟
مېسېج ته يې د غوسې سټېکر ورکړ، څنډ يې وکړ، ويې ليکل:
- يو کتاب دې پرديو ته ډالۍ کوه، تر اوسه دې خپل او پردي ونه پېژندل.
- تر تا زر ځله قربان شم، زر واړه کتابونه ستا په چوپړ کې حاضر دي.
زړونه يې را ولېږل. پسې يې غځېز پيغام راغی:
- د سپين غر هومره لوړې او درنې مبارکۍ ومنه! قلم او فکر دې د اب زم
- زم په ځېر وگرځه.
غځ يې د وريښمو په ځېر نرم ولگېد، ور ومې ليکل:
- ادب، مينه او مننه!
-فکر کوم! ناول دی؟
- هو، همداسې ده.
- منځپانگه يې په څه را څرخي؟
- که له وړاندې يې درته ووايم، تلوسه يې ختمېږي.
د حيرانتيا سټېکر يې را ولېږه، ودرېدم. جيک ته مې لاس کړ، د مېسېج
کړنگ يې شو:
- پليييز، ووايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- منځپانګه یې په کوچنیتوب کې د کوژدې په ناوړه دود را څرخي. یعنې هغوی چې لا د ښو او بدو تفکیک نشي کولای، د ژوند پرېکړې یې کېږي.
- اممم، تاسې مهربان یاست.
- مهربان خدای تعالی دی، چې تاسې یې را لورولي یئ.
سمدستي یې پیغام راغی، لیکلي یې وو:

خدایه دا ټول خلک ړانده کړې
چې زه د یار غېږې ته ځان ورسومه

****

درب شو، مخ مې را واړوه، ګونډې یې پر ځمکه لګولې وې، سر یې ښکته ځړېدلی ؤ، سلګۍ یې تر ما په سختۍ را رسېدلې، را وګرځېدم، مخ ته یې ودرېدم، سترګې یې را نېغې کړې:
- نو ومې وبخښه، بیا به داسې نه کېږي.
نه پوهېدم چې د رحم سره ناځاپي څنګه نا اشنا شوم، مخامخ ورته کېناستم، سترګې مې پرې رډې کړې، چېغه مې کړه:
- ورشه!
زما د ټولو هغو ګرانو ملګرو څخه بخښنه وغواړه، چې زما پر شونډو به یې د خندا راوستلو لپاره پلمې لټولې، هماغه ملګري چې زما خبره به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکې ته نه غورځوله، هغه نازولې ملګرې چې د مينې او ارزښت حدونه يې ډېر وسيع وو؛ مګر ستا لپاره مې خپه کړل.
ټولګيوالو ته مې هم ورشه!
چې ستا لپاره مې ورته د ځنګ چوکۍ پرېښې دي او را څخه خپه شوي دي. هماغه خوارږه ټولګيوال چې د سکنې ورور په څېر به يې پاللم، هماغه همکار ټولګيوال چې په هره سخته کې يې ببنوا نه يم پرېښی، حتماً يې د بشري وس مطابق پاللی يم؛ خو بيا هم ستا لپاره مې خپه کړل.
داسې ډېرې نورې اړيکې چې بايد ما پاللی وای، ستا لپاره مې ونه پاللې، خو تا څه وکړل، هنن؟
خبرې مې بس کړې، له سترګو يې څو اوښکې پر باړخو ورغړېدې، ومې نشواى زغملې، غلی شوم، د سترګو خوږوالي يې ملامت کړم، داسې احساس مې وکړ، چې په خبرو کې له لېمېټ واوښتم.
له لاسونو يې کلک ونيولم، مچې يې کړل. سر يې په نازکو اوږو دروند شو، زما پر اوږه يې را کېښود، په ويښتانو کې مې ګوتې ور تېرې کړې، په تندي مې د ښکلېدو موقع ورکړه، د شاعر دا بيت مې د بخښنې لپاره ور ډالۍ کړ:

سر دې را پورته کړه خو بيا به وعدې نه ماتوې
ما دښمنان بخښلي، ته خو مې جانان يې ياره

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

ستا هېڅ حق نه جوړېږي، چې وغړېږې او د ځان د سپينوالي لپاره دلايل وتراشې؛ ځکه ته خو د يو وسله وال لوټمار په څېر وې، ځواني دې را څخه ولوټوله، ما د ډېرې بې وسۍ غږ نه شو ويستلی، تا په بې رحمۍ را څخه خنداوې واخيستې، ما هڅه او هيله وکړه چې هر څه را څخه مه لوټه؛ مګر ته دومره په زړه کاڼی شوې، چې د يو اضافي توکي او خځلې په څېر دې په ډېران وغورځولم.

اوس به د چا په کار شم؟ ښکاره ده چې څوک مې نه قبلوي او بايد چې قبول مې نه کړي؛ ځکه ما سره څه دي، چې د قبلېدو وړ دې شم؟ زه خو لکه کالبوت داسې يم، نه خندا لرم او نه ادا. وچې شونډې، هډوکي مخ، ببر ويښتان او نا منظم حرکات کله د منښتې وړ جوړېدای شي، ااااه!

تا خو دا هم کولی شو، چې ناز دې راکړی وای، پام دې را باندې کړی وای، څنګ کې دې ګرځولی وای، ګلاب دې راته ويلی وای، خو څه؟

يوازې همدومره چې د يو اغزي په توګه دې راته نظر وکړ، ودې رېبلم، د لمر په وړانګو دې وچ خځله کړم، بيا دې د خپلو ستمونو په لمبو وسوځولم او ايرې دې وګرځولم، د نفرت په باد دې هوا ته پورته کړم او ودې شيندلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلمونو ډېر روايتونه او تاريخونه مې لوستي وو، خو ستا ظلمونو د تاريخ ټول ظلمونه ونړول؛ ځکه تاريخي روايتونو د داسې ظلمونو هېڅ يادونه نه ده کړې، چې له يو چا دې په ژوندوني مړی جوړ کړای شي، مګر تا وکړل او يوه رښتينې مينه وړاندې له دې چې خپل منزل ته ورسېږي، سپکه او بې قدره کړه، زمانې او خلکو ته دې بدنامه ور وپېژندله او يو له مينې ډک زړه دې ګناهګار حساب کړ، خو دا په ياد ساته، چې ...

نور به دې هر يو ستم هېر کړم

خو بې قدري به دې تر عمره يادومه

****

- د زړونو پيوند کېدل په ډېرو هڅو پورې تړلي نه دي؛ بلکې دا طبيعي ده چې د يو چا د زړه ژورو ته کښته شوئ، بيا چې هر څومره عادي خبره او کړنه کوئ، هغه ته به ډېره ارزښتمنه وي. ته به ورته ارزښتمن يې، ستا د موبايل زنګ او مېسېجونه به ورته دومره ارزښتمن وي، چې هېڅکله به د ستړيا احساس نه کوي او شېبه په شېبه به دې د هر زنګ او مېسېج دومره اکرام او قدرداني کوي، لکه د يوه عزتمن مېلمله پر وړاندې چې ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه پوهېدم چې تقرير مې اوري؛ مگر داسې مې ښودله چې دلته شتون نه لري او زه يې نه وينم. بېرته مې د ملگري په اوږه لاس واړوه، تقرير مې روان وساته:

- ورک يې کړه، ډېره هڅه مې وکړه، چې زړه به يې شم؛ خو په زړه باندې يې هم نه شوم. څومره سخته وي، چې ستا به يوه شېبه له زړه نه وځي، هڅه به کوې چې په يو ډول نه يو ډول ځان ور ياد کړې؛ مگر هغه داسې چلند وکړي چې ارمان درشي، کاش يا د دې دنيا پر مخ زه زېږېدلی نه وای او يا مې ببخي ورسره پېژندلی نه وای.

غلی شوم، ملگري راته سترگه کېکاږله، ويې پوهولم، چې بشپړ دې اوري، دوام ورکړه. ما هم غاړه تازه کړه، بيا لگيا شوم:

- څه خوند به يې درلود، چې طبيعي يې د زړه ژورو ته کښته شوی وای، بيا به د قدرمن مېلمه په څېر ارزښت راکول کېده، ناز به مې کولای شو، په خلاص زړه به مرورېدلی شوم، اوس خو چې مرور هم شم، دومره ځان ناگاره واچوي، چې گوندې په هېڅ هم نه پوهېږي، مجبور يم، ځان خپله ور پخلا کړم او خلاصه دا چې ...

د ډاره غږ کولی نه‌شم
د سوال ياري ده اوس به ړنگه بنگه شينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

د خوښۍ او خپګان ګډ احساس مې درلود. خوښ خو ځکه وم، چې ما يې د ديدن هېڅ موقع له لاسه ورکړې نه وه، حتی که يوه ثانيه وخت به هم ؤ، د تشريفاتو قطعې د عسکر په څېر به منظم او تيارسۍ په خدمت کې حاضر وم. پر انرژي او له ولولو ډک وجود سره به يې ما د سترګو طوافونه کول.

ديدنونه خو د خدای پاک په امر کېږي، مګر ما هم د بندګۍ پوره - پوره حرکت کاوه او خدای تعالی به را مهربان شو، له برکتونو به يې د ديدن شېبې را ډکې کړې، نه به د چا مزاحمت ؤ او نه منافقت، يوازې او يوازې محبت او محبت، بس خلاص!

د خپګان وير مې هم په وجود ګډ ؤ، ځکه د يوې ناڅرګندې مودې لپاره له يو بله جدا کېدلو. حاکم وضعيت او شرايطو ته مې چې کتل، بيا ليدل ناممکن نه وو؛ خو ممکن هم نه ښکارېدل يا شايد ما د خپل بخت په تړاو ويره درلوده، ځکه همېش ما سره په بېلتون کې مل پاتې شوی ؤ او هغه خلک يې را څخه بېل کړي وو، چې ما د خپل ژوند د بايللو جواري کولی شوه، خو د دوی له لاسه ورکول مې په هېڅ دليل نه غوښتل؛ مګر له ما يې بېل کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلې او د جانان ډاډ ؤ، چې د راتلونکي لپاره یې خوښي رابخښله، خو د جدايي شپېو ناهیلی کولم او داسې احساس یې را کاوه، چې په ډېره لویه کچه جواري کوم او خپله ټوله ارزښتمنه شتمني بایلم.

هر څه مې لیدل او درک کول؛ مگر د مجبورۍ ورځې د خدای په اماني لپاره ور تر غاړې شوم. سترگې مې د اسمان خوا ته کږې شوې، دا لنډۍ مې گیله کړه:

ژوند ته په بېرته - بېرته گورم

لکه بایللی جوارگر چې کور ته ځینه

****

ډېره سخته وه، بېخي له درده ډکه شپېه مسلطه وه، د دوزخ کیفیته حالت احساس مې کاوه، دنیا راته قبر شکله برېښېده، چې پر خپلو لاسونو مې له خاورو ډکې بېلچې در باندې اړولې.

پر هماغه سترگو چې د یوې دقیقې لپاره دې ما خپگان لیدل نه غوښتل، ستا د نازک بدن د خاورو لاندې کېدلو ننداره مې کوله.

پر هماغه غوږونو چې د غږ اورېدو سره به دې د یو سترې په څېر دمه کېدلم، د بېلچو د ټنگ - ترونگ او د خاورو د غرب - غروب اوازونه مې اورېدل، چې د خاورو لاندې کېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر هماغه ژبه چې په څومره خوږ انداز به دې نوم ما اخیسته او په څومره خوږه لهجه به مې د ژوند لپاره را پخلا کړې، پر ژبې مې د انا لله وانا الیه راجعون الفاظ زمزمه کول؛ خو زه!

بیا هم ژوندی وم، بیا هم بینا وم، بیا هم گونگ نه وم، بیا هم کوڼ نه وم او بیا هم په تا پسې مړ نه وم....

گونډې مې ولگولې، چیغې مې کړې:

نصیبه څه کانې دې وکړې

ببلچه په لاس په اشنا خاورې اړومه

ژر را پورته شوم. بدن مې خوله و، په کوټه کې تیاره وه، شکر مې وویست چې رښتیا نه دي.

****

ستا خوی د کومې بلې زمانې ؤ، ته جدا وې، تا ځانگړی جادو لاره، تا سره هنر ؤ، هغه هنر چې د انسان څخه یې کرکې - کینې - غوسې - بدنیتۍ او نور ډېر بد خویونه توږل او صیقل کول. ستا لپې د بزگر د لپو په څېر وې، د هغه بزگر چې د زړونو پر ځمکه د مینې تخمونه شیندي.

زما یاد نه‌شي، چې یو چا ته دې ما درې ځل د زنگ وهلو تکلیف کړی وي، یو ځانگړی غرور مې لاره، که چا مې د لومړي او دویم زنگ ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړی نه ؤ، په کیسه کې به یې نه وم؛ تر څو به یې چې خپله اړیکه نیولې نه وه.
د درېیم ځل زنګ وهلو تکلیف مې نه کاوه، خو ستا پېژندلو عام و تام بدل کړم، تا به د خپل حسن په غرور زما پرلپسې زنګونه نه ځوابول؛ مګر د پخوا په څېر نه وم، ضد مې نه کاوه. درېیم ځل زنګ وهل خو عادي اړیکه نیول ؤ، حتی په لس ګونه ځل مې اړیکه نیوله، هغه پخوانی پاتې نه وم.
دا مې هم یاد نه‌شي، چې د یو چا د بدې او سختې خبرې پر وړاندې دې ما سخت ځواب ورکړی نه وي، که چا به یوه سخته خبره کړې وه، ما به دوې سختې کولې؛ مګر ستا معرفت داسې تغییر کړم، چې د هر چا د سختې خبرې پر وړاندې یې نرم او لطیف کړم، چا به چې سخته خبره راته وکړه، خوږې سترګې به دې را یادې شوې، غلی او خاموش به شوم، د سختې خبرې کولو جرات دې را څخه وتوړه.
دا هر څه ستا د لطف او مینې له برکته وو، ستا د لږې او محدودې مودې وصال داسې وروزلم، چې په هر ساکښ مې مینه او مهرباني راځي. یو وخت مې په انسان زړه خوږی نه درلود؛ مګر اوس چې کوم ټپي حیوان هم ووینم، ژر ور ټیټ شم، په هڅه کې شم چې د درملنې چاره یې وشي، بیا هم ستا مهربان وجود او شخصیت حس کړم، په فکر کې شم دا حیوان به هم د چا د زړه ټوټه وي، لکه یو وخت چې زه ستا د زړه ټوټه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښو سترګو قسم نه خورم

څومره چې سترګې غړوم، تا یادومه

****

دواړه خپه وو، تر منځ مو چوپتیا خوره وه، اسویلی یې وکړ:

- اه! هېڅ خوب مو تعبیر نه‌شو، هیلې مو په سترګو کې نم شوې، څه بې وخته او بې‌ځایه نړېږو، وېش ـ وېش! د غمونو او دردونو په هجوم کې لمبه کېږو، د خوښۍ پسې ړندېږو.

ما یې لاسونه ونیول، سلګۍ مو شوې، ومې ویل:

- اخ! څه د زړه له جذبې ډکې شېبې مو لمانځلې او درلودلې، وېش ـ وېش! ومو بایلودې. دا تصور مو کله درلود، چې داسې بې‌وسه او د زړه جوشه لوېدلې ځوانې دې ولرو.

ور غاړې وتم، په اوږه یې سر را کېښود، سلګۍ یې وې:

- اخ! وخت څه په هنر غلا کوي. د ژوند هغه ممتازې شېبې داسې پټې په‌خپله غېږه کې ونغاړي، چې هېڅ ګومان دې نه راځي، چېرته یو ځای د ژوند خواږه منظرونه هم تېر شوي دي . ما یې له غاړې لاسونه چاپېر کړل، د زړه دربا یې ما حس کوله، په خبرو شوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اخ! په لیرې تصور کې هم نه ځایېدله، چې داسې ځوړند وضعیت دې را مېښت شي، داسې وضعیت چې د هر مخلوق له څېرې ناهیلي څڅېږي. وېش ـ وېش! کله مو داسې تقاضا لرله.

سلګۍ یې ارامې وې، اوښکې یې وچولې، شونډې یې وخوځېدې:

- اخ! ژوند خو د رباپ ترنګ دی. د لونګو بوی دی. د لالي ښنګ دی. حیف! چې دلته نه دی. وېش ـ وېش! دلته خو ژوند پیکه ماښام دی. د باروتو بوی دی، داسې بدرنګ چې نوکارې یې را ښنې کړې دي، لکه لېونی ځناور ...

خبره مې ترې واخیسته، په لړ اوچت غږ مې دا ټپه ور ډالۍ کړه:

په چا مې سترګې نه خوږېږي

بلا دې واخلم په رښتیا نیمګړی یمه

****

خپه ښکارېده، ویل یې:

- داسې څوک خو باید ولرې، چې د دردمن زړه کیسې درته وکړي، ته یې واورې، تا واوري. ته یې درک کړې، تا درک کړي. داسې څوک چې د یواځېتوب پر وخت، د زړه تنګون پر وخت او د دردېدو پر وخت یې را وغواړې، ور تر غاړې شې او ارام ومومې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیران مې ور وکتل، په فکر کې شوم، چې دا معجزه څنګه کېږي، د هغه چا د خولې د مینې خبرې اورم، چې باور مې نه راته، ومې ویل:

- د زړه د چنارونو مرغۍ مو باید داسې یو چا ته وچڼېږي، چې درد کموونکي اوسي، زړه سپکوونکي دې وي، ارام در کوونکي وي، خندوونکي دې وي.

خبره یې ونیوه، ژر یې وویل:

- دا ټولې غوره ځانګړنې دي، غوره او ښې ځانګړنې کسبي هم کېدلای شي، د هر چا لپاره اړتیا او پکار ده، چې د ټولنیزې اړتیا( مینې) په پار یې کسب کړي.

مخامخ ورته کېناستم، ومې ویل:

- ما تل هڅه کړې ده، چې په تا کې دا ځانګړنې وروزم، د دې لپاره چې زما په نشتون کې هم یو ځانګړی انسان اوسې. یوازې زما لپاره نه؛ بلکې د هر انسان لپاره داسې زړه ولره، چې هغه پکې ځان ووینې، په لپو ترې مهرباني واخلي. د بل په درد دردمن وي، په هیڅا یې بده پېرزو نه وي.

شُکر ادا کوم چې د یو چا روزنه مې بریالۍ ده، ښه احساس کوم، چې تا لرم !!

په مثال ته د سجدې یې

تندی در وړم په ارام شمه جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

یو بدنصیب اخته ۇ، د خپل بايللي جانان يادونه يې کيسه کول. شاو خوا يې ملګري را تاو وو، ټول داسې غوږ وو، لکه کومه تاريخي پېښه چې اوري. وړاندې تېر شوم، دومره واټن کې ترې د ونې ډډ ته تکيه شوم، چې غږ مې يې اورېدلی شو؛ مګر داسې مې ښودله، چې ګواکې غږ يې تر ما نه را رسېږي.

يوه ملګري وپوښت:

- دا شېبه ډېره سخته نه وي، چې په زړه دې د باران په څېر را ووربږي؛ مګر ليدل يې ناشوني وي؟

خوله يې خبرو ته جوړه کړه، خو داسې شو، لکه خبره يې چې ونښلي. سېګرېټ يې کش کاږه، سترګې يې پټې شوې، خوله يې را ټوله شوه، لوګي د اسمان پر خوا پورته شول، غږ يې را ووت:

- اه! د دې شېبې د سختۍ کيفيت د الفاظو په محوطه کې نه‌شي بيانېدی، د پوهېدنې لپاره يې اړتيا ده چې يو ځل دې څوک جانان جوړ شي، بيا يې در څخه بېلتون ولوټې، تر يوه وخته صبر وکړې؛ مګر زمانه او خلک دومره په زړونو کاڼي شي، چې د ديدن ټول فرصتونه دې بدنام او ګناهګار معرفي کړي.

بل ملګري يې يوه جوړه ور ياده کړه، چې ډېر سره خوښ اوسېږي، د چا په خبرو خپل منځي واټن نه زياتوي، بېخي ښکلې جوړه ده. ده بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سېگرېټ ولګاوه، ویې خندل، لکه د یادې جوړې ربښتینولي چې ووننګوي، ویې ویل:

- ځینې په نصیب او تقدیر شتمن وي. د زمانې او خلکو له هر دام یې اړیکه، په اسماني همکاریو محفوظه وي. د چا د تقدیر پاڼې ښې وي، داسې یو څوک یې په برخه وي چې د درک له اړخه ځیرک وي، په هېڅ حالت کې یې بېلتون ته موقع نه ورکوي. غلی شو، نور یې د خبرو کولو توان نه درلود.

بل ملګري ته یې لکه چې دې بحث خوند ورکړی ؤ، د مجلس اوږدېدل یې غوښتل، غږ یې کړ:

یا به زما نصیب خراب وي

یا به دا ټولې یارانې دغسې وینه

****

د کالیزې په مناسبت مې ځړونه خپره وه. نه یې خوښول، چې په کمېنټ کې یوه موضوع راسره وشاربي، نېغ یې په مېسېج کې د الفاظو مهرباني وکړه، لیکلي یې وو:

- په هر موسم کې چلېدونکې انسانه!

د ژوند هر کال او پسرلی دې جنت کیفیته جوړ شه، هره ورځ دې پسرلی وګرځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شېبه وځنډېدم، پیغام پاڼې ته ورغلم، ومې لیکل:
- ژوند هم څه عجب کیف لري، څو پسرلي د ژوندانه تېر شو، محض په‌دې روایت سره مطیع پاتې یوو، چې پسرلي خوښۍ راولي، خو نه! د ژوندانه خوږلت او تریخوالی خپله د انسان اصالتي پرېکړه ده، چې ذهني او دروني هڅې د ځان خوښونې له‌پاره بوختوي، پسرلي جوړوي او که همدا هڅې د خودي ویجاړېدنې له‌پاره بوختوي، خزانونه ویشي.
سمدستي یې مېسېج ولید. د حیرانتیا سټېکر یې را ولېږه، څه شېبه یې لیکل ونه کړل، فکر کوم د ځواب لپاره یې الفاظ را ټولول. د ځواب درک یې ونه لګېد، ژر مې مېسېج ور ولیکه:
- پسرلي محض د کالونو اندازه تدریجي زیاتوي، د هر تېر پسرلي پسې د ارمان اوښکې نه تویوم او هر راتلونکي پسرلي ته د بزګر په څېر، له ډېرې خوښۍ مې زړه په ټوپونو نه راځي.
مېسېج یې ولید، ژر یې ولیکل:
- پسرلي نور څه در پېرزو کړي، د ګل په څېر ځواني یې در لورولې ده، په لیدو دې مړاوي نظرونه تاندېږي، بیا هم خوښ نه یې.
مېسېج یې موسک کړم. سر مې په بالښت وځړېد، بیا مې ولیکل:
- سږ پسرلی به یو ځل بیا د تېر په څېر خپل کار بشپړ کړي، د کاذبو خوشالیو په جم و جوش کې به د یو مکار او نېرنګ ظالم په څېره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټ؛ خو نه جبرانېدونکی ظلم وکړي او د کالونو په ګراف کې به یو عدد نور هم ور زیات کړي.

مېسېج ته یې په غبرګون د غوسې ستېکر ورکړ. ویې لیکل:

- پسرلی ظالم نه دی، بلکې له خوښیو او زیرو ډک موسم دی، ډېر پکې خپلو هیلو ته رسېږي.

ما یې مسېج ته د زړه ستېکر ورکړ. ژر مې ولیکل:

- دې خوشبینۍ کلونه دوام وکړ، چې پسرلي زیري او خوښۍ راولي، مګر بیا یې هم کوم مطلوب پای نه درلود او څه ډول چې ما د پسرلیو څخه هیلې درلودې، ربښتینې نه‌شوې، هماغسې نیمګړې پاتې دي، زه او ته پکې مونږ نه شو.

وروستی مېسېج یې په دې ټپه را ټول ؤ:

نه به دا ستا زړه په کرار شي

نه به زما مینه په نورو ماته شینه

****

سترګې مې پټې وې، د لمر وړانګې ښې لګېدې، دېوال ته ړنګ وم. یو وخت مې په سترګو نرمې ګوتې حس کړې، جټکه مې وخوړه، هڅه مې وکړه چې سترګې پرانېځم، خو د اجازې لطف یې ونه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هخه يې کوله، چې ځان ناپېژاند وښايي؛ مګر ما يې د ګوتو نرم والی او تودوالی د ميليونونو ګوتو تر منځ هم تفکيک کولی شو. ما يې مړوندونه ټينګ کړل، سترګې مې وغړولې، ور ومې کتل:

- که له پنځه واړه حسونو بې برخې شم، بيا به دې هم ليدلی، اورېدلی، بويولی، لمسولی او درک کولی شم.

لاس يې په اوږه را واړوه. له پوزې يې کش کړم، تندی يې راسره وجنګاوه، سترګې په سترګو شو، ورو يې غږ را ووت:

- له ځانه مې مه بېلوه، نه شي کېدای چې څنګ کې د اوسېدو وياړ د تل لپاره را ډالۍ کړې؟

ما يې په ګوتو کې ګوتې ننويستې، زور مې کړې. ګوتې مو پرانيستې، د ښی لاس مړوند مې يې را کش کړ، په خپل زړه مې کېښود، زياته مې کړه:

- تر هغې چې د زړه دا دربا دوام مومي، د ټولو کايناتو تر مخه دا اظهار کوم، چې زما څنګ تل تر تله تا ته ډالۍ شو، مبارک دې شه!

له ډېرې خوښۍ يې په غېږ کې ونيولم، په سينه يې سر را کېښود، د اوښکو کاروان يې په جنتي باړخوګانو مزل ته دوام ورکاوه.

جېب ته مې لاس کړ، غوښتل مې په دسمال يې اوښکې وچې کړم، مګر له جېبه د دسمال پر ځای تسبې را ووتې، ويې ليدې، په ژړا کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا گډه شوه، په پوښتونکي انداز یې لاسونه خلاص کړل، نوبت مې ترې واخیست:

چې ستا خطونه به پراته وو پکې
د هغه جیب نه اوس تسبې راوځي

****

د ګلانو ګېډۍ یې راته ونیوه، د ژبې په څک سره مې « نه» کړل، زما له غاړې یې لاسونه کلک چاپېر کړل، په اوږه یې زنه را کېښوده، مخ یې راسره ونښلاوه، ګلان یې مخ ته را نږدې کړل، پوزه مې وتخنېده، د ګلانو نرم ورږم ونیولم، سترګې مې پټې شوې، د خیال په نړۍ کې ورک شوم، ویې خندل:
- د ګل هم‌شکله! کټ - مټ دغسې صورت حال هغه شېبه لرم، چې ستا په غېږه کې د سر اېښودو ویاړ را په برخه وي، پټې سترګې ستا د وصال مُعطر حضور احساسوم.
ځان مې ور نږدې کړ، سترګې یې پټې کړې، د ښې باړخو په ښکلېدو یې ونازولم، نرۍ موسکا یې وکړه، کیڼ باړخو یې را وګرځاوه، ما لا د ښې باړخو خواږه هضم کړي نه وو، اشتها مې را وپارېدله، غبرګ باړخوګان مې ښکل کړل، غوږ ته مې خوله ور نږدې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که داسې نازول او پېرزوینې را په برخه وي، فکر نه کوې چې د بل څه خوړلو اشتها دې ولرم؟

سر يې وخوځېد، غومبري يې د رنګه پوکانۍ په څېر واوښتل، نوبت يې را څخه واخیست:

- د بڼ مالیاره! تا څوک کله د مېوو خوړلو منع کولی شي، د خپلې برخې خاوند يې، خوښه ستا ده، چې کله او څومره يې نوشیجان کوې.

څو قدمه شاته لاړم، ګونډې مې پر ځمکه ولګولې، لاسونه مې خلاص ونیول، غږ مې کړ:

لاسونه کلک را نه چاپېر کړه

د بخت سیلۍ به مې د بل څنګ ته وړینه

****

- تا به بل څوک غواړي يا نه؛ مګر زه دې حتماً غواړم.

لیکل يې بس کړل، قلم يې ګوتو کې ټینګ ونیو، نېغ يې را وکتل، سترګې يې پراخې شوې، داسې حالت يې غوره کړ، لکه د توقع خلاف چې کوم څه ویني، ورو يې خپل مخ ته څپېړه ورکړه، چې باور يې راغی، چیغه يې کړه:

- کانکرېټه! باور مې نه راځي، ستا د خولې د مینې خواږه الفاظ اورم، څه وکړم؟ ونځېږم که والوځم. لاسونه يې خلاص ونیول، ما خندل. ومې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منله، ترې روان شوم، را منډه یې کړه، مخه یې راته ونیوه، د خلاصون لپاره مې بل دلیل ونه موند، اسویلی مې وکړ، سترګې مې پټې کړې، د غاړې لپاره مې لاسونه خلاص کړل، په اوږه یې سر را کېښود، د زړه دربا مې یې حس کړه، مخامخ ورته ودرېدم:

- ډېر به یې نه باوروي، مګر دا یقیني او رښتینې خبره ده، ځینې د ناهیلۍ د درملو په څېر وي، بس همدا چې در وغږېږي، در غاړې وځي، در وخاندي، په هماغه شېبه ځان ټول هیله - هیله حس کړې.

د باړخوګانو په رنګ کې یې بدلون راغی، لکه د انار په څېر وغوړېدل، سر یې وځړېد، زنې ته مې لاس ور وړ، غټو بڼو یې شفابخشې سترګې پوښلې وې، ورو یې غږ را ووت:

زما خو زړه زما خو ځان یې

چې ستا به څه یمه کرل رېبل کومه

****

ځینې مینه غواړي، خو ګیلې، جنګونه او خپګانونه نه مني، نه پوهېږم دوی مینه څه ته وایي. مینه یوه ډېره عالي او حساسه اړیکه ده، که ګیلې، جنګونه او خپګانونه پکې نه‌وي، بیا خو یوه عادي اړیکه ده، چې د دې ډول اړیکو څه کمی نه لیدل کېږي. که مینه کوئ حتمي به مو ترمنځ ګیلې، جنګونه او خپګانونه راځي، باید د داسې اړیکې قدرداني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړئ. د هغې اړیکې به څه خوند وي، چې ناز پکې نه وي، مستي او شوخي نه لري، مرورتوب پکې نه راځي، د موبایل نه ځوابول پکې نه وي، د مېسېنجر، فیسبوک او وتس اپ بلاک او انفرینډ پکې نه وي او په ټوله کې تر منځ مو بې تفاوتي حاکمه وي.

مزه خو د هغې اړیکې وي چې د یو کار لپاره دې وځوروي، ناز در باندې وکړي، د یوې خبرې پر ځای شل خبرې درته وکړي، در څخه خپه شي، موبایل دې ځواب نه کړي، په غوسه دې کړي، بېرته دې را پخلا کړي، هره پوښتنه دې په شوخۍ ځوابوي، داسې نه چې یوازې هو او نه درته وايي.

همدا چې د سترې مشي پر مهال شاو خوا وګوري، څوک نه وي، په ټوپونو شي، له ډېرې خوښۍ دې په غېږ کې ونیسي، په غبرګو اننګو دې ښکل کړي، په لېوني درته ووايي او په سینه دې سر کېږدي. د خدای په امانۍ پر مهال هم غواړي، چې د نورو څخه پټ یوې غاړې ته شي، اشاره یا مېسېج درته وکړي، ځای درته وښايي، کلک - کلک دې په غېږ کې ونیسي، ګوتې دې زور کړي.

پوښتنه در څخه وکړي، په کوم اننګي دې ښکل کړم؟ ته ورته چپ اننګی وښايې، ویې نه مني، دلیل ووايي چې چپ اننګی تریخ وي، وخاندي. ته ورته ښی اننګی وښايي، بیا یې ونه مني، دلیل راوړي چې ښی اننګی ډېر خوږ وي، د شکر ناروغي مې پیدا نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټک شي، لاسونه وجنګوي، خندا يې واخلي، په تشو لاس کېږدي، سر يې وځړېږي. ببرته سترګې را پورته کړي، سترګې درسره وجنګوي، په اننګو دې پاسته ورغوي راښکي، په غبرګو اننګو دې ښکل کړي، بیا در غاړې وځي، په اوږه درته سر کېږدي، لګیا شي:

- که د اننګو ښکلولو موقع دې ونه مومم، په رښتیا هم چې په لا علاجه ناروغۍ به اخته شم.

ته يې اوښکې ور پاکې کړې، ډاډ ورکړې، لاس يې زور کړې، ورته ووايې:

- لا خو ژوندی یم. ستا په څېر کله څوک دومره ډېرې موقع لرې، دا اندېښنې لرې وغورځوه، ژوند کوه.

شونډې يې رپېږي، نه غواړي څنګ دې پرېږدي، ساعت ته وګوري، سر وښوروي، د وروستي ځل لپاره يې شونډې وخوځېږي:

رب دې ژوندی لره جانانه

زه لېوني خویونه ستا په ډاډ کومه

****

ته څوک وې؟ زه دې پېژندلم؟ د څه په خاطر دې راسره وپېژندل؟ ولې دې له ځان سره عادت کړم؟ څه اړتیا وه چې د میلیونونو انسانانو له منځه دې زه وټاکلم؟ څنګه دې د نورو پر وړاندې بې پروا او د ځان لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهم کړم؟ ولې دې ځان ته نږدې کړم؟ ولې دې ګران کړم؟ ولې دې پرېښودلم؟ ولې؟ ولې او ولې؟

داسې بې شمېره پوښتنې لرم، د ځواب لپاره يې بايد يو ځل راشې، راسره کېنې. داسې چې که هر څوک په خپل سر راځي او په خپله خوښه ځي، څه ګمان کوې چې څوک به په اسانۍ سره د مينې پر لار قدم پورته کړي، څوک به چا ته د زړه ورکولو قرباني ورکړي، څوک به چا ته ځان نږدې کړي؟

هو!

ستا راتګ حتمي دی. د ډېرو لا ځوابه پوښتنو د حل په موخه هم بايد يو ځل تشريف راوړې، د اندېښنو د رفع او د دردونو د ارامښت په پار هم ستا د را ستنېدو اړتيا ليدل کېږي.

د دې يو واقعيت اظهار هم بايد وشي، ته يوازې د څو شېبو اړتيا نه يې، ته هغه اړتيا وې او يې، چې هر وخت به درته د يو قيمتي څيز په توګه ارزښت در کول کېږي.

پوهېږم او باوري يم، چې زما هرې پوښتنې ته ځواب يوازې او يوازې ستا شتون ويلی شي. زما د ژوند هره پوښتنه که حل کېږي، ځواب به يې ته وې، که په ژوند کې اندېښنه را پيدا کېږي، د رفع دليل به يې ته وې، که د ژوند د هرې ستونزې پر وړاندې ودرېدلی شم، بيا به هم ستا د ډاډ اړتيا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



با وجود د دومره ډېرو اړتیاوو او مهم‌والي سره څنګه نه را ګرځې، باور وکړه د یو انسان سلامت ژوند تا ته اړتیا لري، ستا لړه پاملرنه د یو انسان زړه خوښ ساتلی شي، مه بې پروا کېږه.

فکر وکړه!

ما سره ستا پېژندنه شاید پر همدې خاطر وه، چې د ژوند د هرې سختې او بدې ورځې پر مهال مې تر څنګ اوسې او که چېرې د وارخطایي احساس کوم، ته به ډاډ را ډالۍ کوې.

ته لاړې، بې شمېره دردونو او اندېښنو ته دې یوازې پرېښودم. ته به یې باور نه کړې، زما په خیال کې هم دا نه را ګرځي، چې ته به ما یوازې پرېږدې، لکه په دښته کې ولاړه وچه داسې حالت لرم. په خپل ځان بوج یم، فکر کوم چې هسې ژوند دې روان کړی، هغه څوک چې د ټولې نړۍ څخه زیات باور دې پرې لاره، یوازې پرېښودې، نور څوک به څه ملتیا درسره وکړي.

د خالق تعالی ټول کاینات وینم. آن لمر، سپوږمۍ، اسمان او کاینات لیدلی شم؛ مګر تا نه وینم. نه‌پوهېږم ته د کایناتو په کومه کناره کې استوګنه لرې، چې زه دې په موندنه کې پاتې راغلی یم.

که لمر درته مېلمستیا کړې وي، نو د وړانګو د تودوخې له وجې به اوس مخلوقات سوځېدلي وو، خو پوهېږم چې د لمر سره هم نه یې. که سپوږمۍ درته مېلمستیا کړې وي، نو د وړانګو ځلا به یې اوس مخلوقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړانده کړي وو، باور لرم چې د سپوږمۍ سره هم نه يې. ته به پيدا نه‌شې، مګر ما به د ځان په لټون کې ورک کړې.
هېڅ ښه دې را باندې نه لوربږي، نه‌پوهېږم په دې بدو کې تا کوم ښه ليدلي دي، چې هر وخت يې راسره کوې. څومره وس چې دې رسېده، مخ دې را څخه اړولی دی، کله فکر را ولوېږي، که د مرګ پرېکړې د انسانانو په لاس کې وای، زه به لا پخوا له دې نړۍ رخصت شوی وم.

زما د مرګ اختيار که ستا وای
زه به د ګور چېنجو پخوا خوړلی ومه

****

باران ورېده، د تالندې د سپينې رڼا او هيبتي کړنګ سره به ګروپونه په تېز حرکت راغلل، د ودانۍ پر اوږدو شيشو څاڅکي تېز او په شړک لګېدل، ژېړ طلايي ګروپونو د مانۍ نرۍ لارو ته رڼا او ښکلا بخښله.
تور اوږده بوټان او توره اوږده کورتۍ مې پر تن وه، د ودانۍ په اوږده دهلېز کې چټک روان وم، د بوټانو ترکا مې د باران د څاڅکو سره سيالي کوله، سندرېز شور يې جوړ ؤ.
خړه لړه په ټوله ودانۍ خوره وه، په چمنونو کې اوبه ډنډ وې، د مانۍ مخ ته ودرېدم، پورته اسمان ته مې وکتل، پر مخ مې څو څاڅکي پاسته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواږه ولګېدل، خوند يې وکړ، ښځي ډېر خوند، ايسته پراخ ميدان ته ور ووتم.له ځان سره مې  وويل:

پرېږده!

چې د دې ښکلي هېواد د باران څخه پوست خوند واخلم، دا باران څومره مېين لګېږي، ډېر شيرين خوند کوي، چترۍ پر خپل ځان مه نيسه، يوازې خاموش ورته ودرېږه، ننداره وکړه، وګوره چې زه څومره په باران مېين يم، مېينان پر ځان چترۍ نه نيسي، هغوی دومره تږي وي، چې د باران څاڅکو ته هم غاړې ورکوي.

نېغ ودرېدم، په ننداره شوم، څه شېبه د باران د څاڅکو څخه مې خوند واخيست، موبايل ته مې لاس کړ، په پيغام پاڼه کې مې وليکل:

- تر اوسه دې د را تګ معلومات ونه‌شو؟

ويې ليکل:

- تشريف مې راوړی و، مګر تاسې د ځانګړو مېلمنو سره ليدنه درلوده، غوره مې وګڼله چې په مناسب وخت به بېرته را وګرځم.

موسک شو، پيغام پاڼې ته ورغلم، ومې ليکل:

_ د موسم مهرباني ده، باران اوري.

سمدستي يې مېسېج وليد، انځور يې را ولېږه، د ونې له پاڼې څخه څاڅکي څڅېدل. بيا يې وليکل:

- موسم خو دوه کسي دی. څنګه دې خوښه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه سټېکر مې ور ولېږه، ومې لیکل:
- په دې پوست موسم کې چې ستا د پستو خبرو اورېدو موقع پیدا کېږي، ولې یې له لاسه ورکړم.
د سوک سټېکر یې را ولېږه. نوبت یې را څخه واخیست:
- خبرې کمې کوه، عمل دې ډېر کړه .
مېسېج یې موسک کړم، لنډ مې ور ولیکل:
- پارک کې منتظر یم.
شپه وروسته باران ولاړ و، د پارک د زړې ونې لاندې په اوږده چوکۍ ناست وو، خندل یې، ما یې لاسونه ټینګ کړل، غوږ ته مې خوله ور نږدې کړه:

په زنګانه راته سر کېږده
د نظر دم در باندې ګله اچومه

****

د خدای په امانۍ شپه وه. یو بل ته مو نشوای کتلي. سرونه مو ځړېدلي وو، کله به مو ډنډ سترګې یوه خوا او بله خوا وګرځولې، مونږ دواړو هڅه کوله، چې ګوښه ځای ته لاړ شو، کلک - کلک سره غاړې وځو؛ مګر نه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر ته پورته شوم، داسې مې احساسوله، لکه خپل ټول ژوند چې مې بايللی وي. ور ومې وکتل، په موبايل يې سر ټيټ کړی ؤ، وپوهېدم چې پيغام راته لېږي، موبايل مې را واخيست، پيغام يې راغی:

ـ زه چې بيا درته راځم او ما وينې
ما به ډېر عمر خوړلی وي، لالیه

سترگې مې پټې شوې. زړه مې داسې را ډک شو، چې په لوړ غږ چېغې کړم، مگر ځان مې کنټرول کړ، گوتې مې وخوځېدې:

ـ ته د ديدن گيله ونه کړې
پښتنې مينې خو نيمگړې خوند کوينه

د ژړا ستېکر يې را ولېږه، ژر يې وليکل:

ـ زړه ته مې گوره خوښ مې ته يې
نصيب ته گوره تا نه لرې مې ساتينه

جدايي يې د زغم وړ نه وه. له ناکامه مې زغمله، ځان ته د کاذب ډاډ ورکولو هڅه مې کوله، ليکل مې پيل کړل:

ـ د خپلو څو عکسونو د را لېږلو لطف که وکړئ!

سمدستي يې د زړه ستېکرونه را ولېږل، پسې يې عکس را ولېږه، نوبت مې ترې واخيست:

ـ په زړه دې څه دي راته وايه
خمارو سترگو دې گيلې راوړې دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ غبرګون یې را څرګند نه‌شو، ما هم موبایل بند کړ، د موټر له شیشې مې بهر وکتل، ونې شاته پاتېدلې، شاته تکیه شوم.
سترګې مې لا پټې نه وې، موبایل وشرنګېد، ژر مې اوکی کړ، سلګۍ یې وې، هڅه یې کوله چې خبرې وکړې؛ مګر نه یې شوای کولې، اړیکه یې پرې کړه، پیغام یې راغی:

ـ د زړه له زوره داسې لړ - لړ غورځېدم در پسې
بېلتون دې څه و خو په ملا را ماتېدم در پسې

****

د پیل ورځې وې، نور نه پوهېدم، خو ځانګړی احساس مې لاره، هېڅ ډول خوراک خوند نه را کاوه، په کټ کې به وغځېدم، خو خوب به نه راته، رښې سترګې به مې چت ته نیولې وې، خدای خبر د خیال نړۍ به مې چرته را جوړه وه. کتاب به مې مخ ته ایښی و؛ مګر فکر به مې بل ځای ګرځېده.
د تېر وخت په خبرو مې د پښېمانۍ احساس کاوه. چا به چې څوک میین را وښود، ما به وخندل، لېونی به مې یاد کړ، خو پوه نه وم، چې خپلې غاړې ته به مې دا رسۍ را غورځېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هماغه خلک سپېڅلي راته ایسېږي، راته گران دي، چې ما به لېوني گڼل، غواړم د هر یوه سره په ساعتونو - ساعتونو کېنم، خبرې یې واورم، کیسې ورسره وکړم.

د هر ډول کتاب مطالعه مې کوله، مگر د مینې اړوند کتاب ته به مې لاس نه ور وړ، لکه گناه چې کوم. اوس مې د لگښتونو لومړیتوب د مینې کتابونو په پېرلو دی. کرۍ شپه ناست یم، د مینې بنډل کتابونه مې مخ ته ایښي وي، یو - یو کتاب را اخلم، لړلیکونه یې لولم، جالب عنوانونه یې په نښه کوم او بیا یې په ډېر ذوق سره لولم.

له خطاط مې لاسلیک زده کاوه، ویل یې:

- څه ډول لاسلیک در زده کړم؟

ویل مې:

- داسې لاسلیک چې زړه پکې راشي.

کله د نورو په تړاو په قضاوت ځان ملامت کړم. سر مې وځړېږي. په رښتیا هم تر هغې چې پر مونږ نه وي راغلي، د نورو په تړاو بې پولې قضاوتونه کوو، هر ډول ټاپې او تورونه لگوو.

اوس ټول هغه کارونه کوم، چې ما یو وخت د لېونیانو کارونه گڼل. ځان سره غلي ووایم:

ما لېوني کارونه نه کړل

لېونۍ مینې ورته ډېر محتاجه کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

خدای تعالی په مخلوقاتو کې انسان تر ټولو ښکلی پیدا کړی. کله چې ستا د بدن حیرانوونکي جوړښت ته ځیر شم، د خدای تعالی د ذات سره مې مینه لا ډېره شي، پوښتنې مې ذهن کې را وټوکېږي، چې مخلوق یې په دومره اندازې ښکلی پیدا کړی، خپله به څومره ښکلی وي؟

ته هغه انسان یې، چې یوازې ظاهري ښایست نه لري؛ بلکې باطني ښکلا هم خالق تعالی در لورولې ده.

پوره باور مې دی، چې ستا د بدن ظاهري او باطني جوړښت عادي پرښتو نه دی کړی؛ بلکې مسلکي او هنرمندو پرښتو ستا د بدن په جوړښت کې ځانونه ستړي کړي. په دې هم یقیني یم، هغو پرښتو چې ستا د بدن په جوړښت کې یې ونډه لرلې وي، د نورو پرښتو تر منځ به ډېرې مشهورې یادېږي او ستا جوړښت به د هغوی د شهکار په توګه یادېږي، نورې پرښتې به ترې اغېزمنې وي او هیله به لري، چې دوی هم دغسې نادر بدنونه وپنځوي.

پوهېږې!

زه په ډېر ګڼ نفوسه سیمه کې را لوی شوی یم، په ګڼ نفوسه ښوونځي کې مې درس لوستی دی، په ګڼ نفوسه پوهنتون کې مې زده کړې کړې دي، ګڼ نفوسه ښارونو ته د چکر لپاره تللی یم، په دې دومره ګڼ مېشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونو کې ستا په څېر د ښکلي بدن انسان مې نه دی تر سترګو شوی، ستا جذابیت - ذهانت - لیاقت - معنویت او داسې ګڼې نورې غوره ځانګړنې ستا په بدن کې ځای لري.

زما سترګې بختورې دي، چې ستا د لیدلو ویاړ لري زما غوږونه تر ټولو نېکبخته دي، چې ستا د غږ موسیقي یې اورېدلې ده. زما لاسونه هم بختور دي، چې تا سره یې د لمس کېدو ویاړ خپل کړی دی، په ټوله کې زه بختور انسان یم، چې تا سره مې پېژندنه شوې ده، ویاړم!

که کېدلای، تا باید د نړۍ د ښکلا جایزې ته ځان نوملی وای، واقعیت دا دی چې نړۍ بې عدالتي کوي، د جایزې ګټونکی هغه څوک اعلانوي، چې د ښکلا او ښایست نوم پرې شرمېږي. که د عدالت او رښتیا ډګر ته خبره لاړه شي، تا ګټلې. معیارونه دې پوره دي، ته یې وړ یې، ته د ښکلا برم را ژوندی کوې، د ښکلا اصلي تعریف ته یې، باید نړۍ ته ور وښودل شې.

جنګ کې پیدا، جنګ کې را لوی او جنګ کې به مړه شو؛ مګر ستا د ښایست ننداره مو په ارام او خوښ زړه ونه کړې. چرته چې جنګ وي، هلته د انسانانو ارزاني وي، د انسان له انسانه کرکه کېږي، یو بل نه پالل کېږي، یو بل ته درنښت نه ورکول کېږي او هڅه دا کېږي، چې څنګه د یو بل په لمنځه وړلو ځانونه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما او تا هم د دې جنګ څپلې ټولنې وګړي یوو، جنګ له ما څخه دا ځواک تروړلی، چې ستا ښایست وستایم. پوهېږم هېڅ پېښه به ونشي کولای، چې ستا په ښکلا کې کمښت راولي؛ مګر جنګ نه!
ورځ تر بلې وینم چې ستا د ښایست لمر ته د جنګ ورېځې ور نږدې کېږي، ورځې تر بلې ستا د ښایست د لمر وړانګې د جنګ د ورېځو تر اغېزې لاندې وینم.
ستا د ښایست ندرت او زما د لیک واقعیت روښانوي، چې مونږ ښکلي او رښتیني یوو، هغوی چې مونږ په نورو نومونو یادوي، په واقعیت کې د نړۍ د یو اتل او مینه خوښوونکي قوم د رښتینې څېرې د پټولو ناکام هاند کوي.

****

موبایل وشرنګېد، ور ومې کتل، باور مې نه راته، د وزرو کمی ؤ، ګنې الوت حتمي رانه کېده. رنګ مې الوتی ؤ، د اوکی تنۍ ته ګوتې نه ور وړاندې کېدې، سترګې مې پټې کړې، د وجود په ټول زور مې د اوکی تنۍ کېکاږله، د غږ خواږه یې را ولوړول:
- هلوو، هیله ده مزاحمت مې نه وي کړی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځایېدم، له پښو مې ځمکه وتښتېده، لکه په هوا کې چې الوت کوم. شونډې مې نه خوځېدې، داسې مې احساسوله، لکه د غږ چې محروم یم، بې غږه او ساکت وم. ناځاپي مې له خولې ووتل:

- بېخي په مناسبه موقع مو د اړیکې نیولو مهرباني کړې ده، کله زحمت کېدای شئ، تاسې خو رحمت یاست!

چوپتیا شوه. وپوهېدم، چې غوره ټکي را ټولوي. کار مې پرې ونه لاره، په تمه پاتې شوم، ټوخي یې وکړل:

- د یو څه په اړه مو پوښتلی شم؟

- مهرباني!

- مممم، د ویلو جرات یې نه لرم.

- ولې؟

- غوږونو کې گوتې کېږده، چې ویې وایم!

ومې وخندل. غبرگون یې را څرگند نه شو، بیا یې د غږ اورېدو ته تم شوم، را غږ یې کړل:

- مینه دې کړې؟

- توبه! ولې مې گناهگاروې.

ویې خندل. ولړزېدم او داسې یخني مې په بدن کې خوره شوه، لکه سړې خونې ته چې ور داخل شم. ځان مې را ټول کړ، داسې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محسوسوله، لکه په دې دنیا چې تشریف نه لرم، کوم بل ځای د حورو - غلمانو سره د ناستې ویاړ را په برخه وي. غږ یې بیا را څرګند شو:

ـ میینه یم، مُنکره نه یم

په ښُکلو - ښُکلو د هر چا مینه راځینه

ما هڅه کوله، چې پر ځان کنټرول له لاسه ور نه کړم، مګر جادویي غږ یې داسې کانې کولې، چې پر ځان کنټرول یې را څخه اخیسته، د بې هوشۍ پر خوا یې وړلم، چالاکي مې وکړه، نوبت مې ترې واخیست:

- وبخښئ! ځواب په مېسېج کې موندلی شئ.

ژر لاړم، په پیغام پاڼه کې مې د لیکلو هاند پیل کړ، ګوتې مې بې اختیاره رپېدې، لنډ مې ولیکل:

**- زه میین نه یم!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل ملگری/ ملگرې مو په ارزښتمنه ډالۍ ونازوئ:

د..........................................................................له لوري

ښاغلي/ آغلې..................................................ته ډالۍ!

..........................................................................

لاسلیک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**